مورچل

یوولسم کال پنځمه، پرلیسې ۱۰۵مه ګڼه، شعبان المعظم۱۴۳۸هق، مې۲۰۱۷م

وروستی کال
داشغال

دکابل رژیم ولې دامریکالپاره ملت په اورکې سوځوي ؟!

ټرمپ په څلورو کې حیران دی

دجګړه مار ټرمپ جنګي تګلاره

امریکا باید په افغانستان کې څه وکړي ؟

دعملیاتو له تنظیموونکي مجاهد سره مرکه:
په شاهین قول اردو عملیات څه ډول ترسره شول؟

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

يو ولسم کال پنځمه، پرلپسې ۱۰۵مه ګڼه، شعبان المعظم ۱۴۳۸هـ ق مې ۲۰۱۷م

لړليک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	د جګړه مار ټرمپ جنګي تګلاره.....	۳
۳	ټرمپ په څلورو کې حیران دی.....	۶
۴	امریکا په سعودي عربستان کوم ډول وسلې پلوري؟....	۸
۵	منصوري عملیات او د جهاد بختوره میاشت!!.....	۱۱
۶	په شاهین قول اردو د برید تنظیمونکي سره مرکه.....	۱۳
۷	امریکایي مجله : امریکا باید په افغانستان کې.....	۱۸
۸	امریکا خپلو لاسپوڅو ته په کوم نظر ګوري؟.....	۲۳
۹	د کابل رژیم ولې د امریکا لپاره، ملت په اور کې	۲۶
۱۰	د امریکا نویو اعترافونو ګوډ ګیانو پرمخ څه پریښودل..	۲۸
۱۱	د اسلام غزوات او سرایا.....	۳۲
۱۲	د ۲۰۱۷م کال د مې د مياشتې جهادي خبرونه.....	۳۶
۱۳	د مورچل وړمې.....	۷۰

د امتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی :

حسن خپل | ایوب صافی
حسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مسافر | حافظ سعید

تخنیکي چارې :

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس :

پته: کابل بار، پنځمه حوزه، د مجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

د اشغال وروستی کال

ښکاري چې پرهيواد دنړيوال کفري ايئتلاف داشغال دا وروستی کال وي اودخپلواکی په درکې مو منصوري قرباني قبوله شوې وي، چې دمنصوري وينې راوړې فتحې په سترګو وينو، نور دايئتلاف غړي سست اودجهاد دپولادي عزم په وړاندې دغه خوازه په شړېدو ده.

امريکا چې د صليبي يرغل مخکښه اوملکه ده، دلته په نظامي تلفاتو برسېره له داسې اقتصادي بحران سره مخ ده، چې نه اوس مخ ته تلی شي اونه شاته، ځکه واک ته له رسېدو سره سم چې ټرمپ دافغانستان دقضيې په نظامي حل خوله خلاصه کړه، سمدستي پرې امريکايي رسنيو او بېلابېلو سازمانونو سر راپورته کړ اودهغه نامتوقع رسوا برخليک په اړه يې څرګندونې وکړې، چې داوباما خلاصېدل يې ترې دهغه بخت وباله او دامريکا دولسمشر په حيث پرې اخته کېدل يې په ټرمپ ونه لورېدل.

همدا لامل دی چې هره ورځ دامريکا هره چاپې اوبربښنايي رسنۍ دافغانستان په اړه تبصرې اوخرګندونې لري، او له خپل ولس سره دخواخوږۍ له مخې ځان مجبور بولي ترڅو دافغانستان دجګړې په اړه ځينې پټ رازونه هم خپاره کړي .

هره رسنۍ په خپل وار دافغانستان روانه ١٦ کلنه جګړه ناکامه بولي اود سوونو ملياردونو ډالرو له لګښت پرته پکې هيڅ لاسته راوړنه، نه وينې دواشنټن پوسټ او نيويارک ټايمز ورځپاڼو په تعقيب چې دامريکا حکومت يې دکابل اداري په ملاتړترسخته نيوکو لاندې راوستی و° دادی بيادافغانستان لپاره دلګښتونو دځار امريکايي سازمان " سيګار" ويلي چې په افغانستان کې فساد دومره حد ته رسېدلی چې حکومت ته ورکول کېدونکي ټېل او وسلې بېرته په طالبانو پلورل کيږي، هغه خيالي کلينکونه، مکتبونه اودپوليسو او اردو دليکو خيالي افراد او س هم شته چې لګښت ورکول کيږي خو وجود يې نشته .

دامریکا دکانګرس غړو هم غونډتنه کړې چې دافغانستان په جګړې دې له سره بحث وشي ، هغوی وایي قانوناً دجګړې دپیل اوپای حق له دوی سره دی اوداچې امریکایي جنرالان په جګړه ټینګار کوي هغه هم په داسې جګړه چې په ١٦ کلونوکې کومه لاسته راوړنه نه لري داد هغوی ناسمه تګلاره ده، د امریکا دکانګرس غړي " جون ګرامنډي" او " والټرجونز" وایي: کانګرس به ټرمپ ته ترهغو دجګړې بودیجه منظور نه کړي ترڅو یې په رسمي ډول د امریکا کانګرس ته د دغې جګړې په اړه قناعت نه وي ورکړی چې دغه جګړه دامریکا په ګټه ده.

دغه راز امریکایي چاپ دفارن افیرز ورځپاڼې هم په دې وروستیوکې ورته تبصرې او دټرمپ په ناڅرګندو تګلارو لیکنې خپرې کړې اوهغه یې دافغانستان په اړه دتګلارې په ټاکلوکې "په یوه څلور لارې کې حیران بللی، چې لار ترې ورکه ده او نه پوهیږي څه وکړي، ورځپاڼه وایي امریکایي چارواکي دافغانستان دجګړې په عمق او پیچدګۍ کې تجاهل کوي او باید چارواکي ددغې مبهمې جګړې په اړه دامریکاخلکوته ځواب ووایي "

دغه ډول ځرګندونې هسې تصادفي او شخصي- اننګېرنې نه دي، بلکې په ټوله کې دامریکا دخلکو او حکومت نظر وړاندې کوي، په امریکا او غرب کې چې هرډول بدلون اوتغیررامنځته کیږي، وار له مخه یې په رسنیو کې وړاندوینې او اغېزې رابنکاره شي او بیا هماغسې کیږي .

کارپوهانو او د نظرخاوندانو داسې انګېرلې چې سږ کال به په افغانستان کې دیرغلګرو وروستی کال وي او چې هرځنګه کیږي امریکا او اینټلافي قواوې به له افغانستانه پښې سپکوي، ځکه دهیواد په دننه او دباندې ډېرې شواهد داسې دي چې دغه وړاندوینه یقیني کوي، داچې ویل کیږي افغانستان ته اضافي قواوې لېږو، له ناټو د نورو قواوو غونډتنه کیږي او.... دا هر څه هاغه هڅې او غورځې پرځي دي چې په جنګ کې یې مات لوری په داسې مهال ترسره کوي چې ګوابښ رندو نیولی وي، یا په بل عبارت ځان ته داوړو یوه پوزه برابروي !!.

مونږ دخپلې مبارزې په سپېڅلتیا اوحقانیت دومره باوري یو چې که تردې په څو واره زیات اضافي عسکر اونظامي قوت افغانستان ته راشي، هیڅکله به مو په اراده کې تزلزل رانه شي او د ژوند تر وروستۍ سلګۍ به هم له دې پاکې مبارزې لاس په سر نه شو، دوی چې ځان ته هرډول پوزه جوړوي اوخپل نړیوال اعتبارساتلوته ډول ډول بهانې لټوي، له دغې شرموونکې ماتې او بدانجام څخه خان نه شي ساتلای، کاشکې چې دوی دغه ورځ پرون لیدلی وای اوزمونږ هغه وړاندیزونه اومشورې یې دخپل کبر له مخې په ځمکه نه وای غورځولې چې دیرغل په لومړیو کې مو ورته وړاندې کولې ° نن به له دغه حالت سره نه مخ کېدل اولکه ددوی مطبوعات چې وایي " دامپراطوریو په هدیره کې" به یې په وروستي تابوت مېخ نه وهل کېده .

د جګړه مار ټرمپ جنګي تکلاره

بشیر ارمان

دتیرې چهارشنبې په ورځ دکابل ښار په زنبق څلورلارې کې یوه خونړي برید کې سل تنه مړه اوله څلور سوه څخه زیات ټپیان شول، داسلامي امارت ویاندوی ذبیح الله مجاهد دبرید خبر د خپریدو وروسته رسنیو ته وویل: چې په دغه خونړي برید کې داسلامي مجاهدین په خاصه توګه دحقاني صاحب جاهدین لاس نلري او اسلامي امارت دغه په کلکه غندي.

دکابل لاسپوڅې اداري او نړیوالې میډیا دخپل پخواني عادت سره سم دبرید دپړې ګوته طالبانو ته اونیوله او په دې لړ کې یې په خاصه توګه دحقاني شبکې (چې وجود چې د میډیا یې تبلیغ پرته حقیقت نلري) نوم واخیست چې دهغوی لخوا یاد برید ترسره شوی دی

حال داچې د حقانی شبکې په نامه دمجاهدینو ترمنځ کوم تنظیم، ډله، یاحرکت شتون نلري ،یو اځي په میډیاکې ددښمن لخوا بیا، بیا اوریدل کېږي چې هدف یې تري بیرون ته په مجاهدینو کې درزونه اونفاق ښودل دي چې ګواکي دامریکا داشغال په وړاندې جنګیدونکي مجاهدین په څو ډلو سره ویشلي او یوندي لیکن داشاید ددې پیړۍ یوله لویو درواغو وې چې امریکا او دکابل ګوډګی رژیم وایي.

هر چې دهېواد نومیالی جهادي شخصیت مولوي جلال الدین حقاني حفظه الله او دهغه مجاهده اوشهداء پالونکې کورنۍ هغه داسلامي امارت سره بیعت دي ، نومورې نه دامارت نه جلادی اونه په دغه نامه کومه ډله یاشبکه لري بیا هم ا مریکا، کابل غلام رژیم او میډیا دحقاني شبکې نوم ژوندی ساتي چې اخر دڅه لپاره؟

له شک پرته دمجاهدینو ترمنځ اتحاد او دجهادي صف وحدت ورته دزغم وړندی ،ځکه مدام هڅه اوکوښښ کوي چې بیرون ته داسې ذهنیت ورکړي چې په افغانستان کې دامارت نه علاوه ځینې نورې ډلې ټپلې هم دامریکا پر ضد جنګي فعالیتونه کوي ، هم زیارباسي چې حقاني شبکه دامارت په پرتله یوڅه توند روه وښایي څو په پلمه یې په سیمه کې د خپل نامشروع اشغال پایښت لپاره پلانونه جوړکړي

غربیان اود میډیا ړانده تحلیلګران دومره په سپین سترګې او رډ سترګې دروغ وایي چې هیڅ شرم او خجالت نه محسوسوي دا ړانده دیته نه ګوري او پام نه کوي چې حقاني صیب ،دهغه ټوله کورنۍ او مجاهدین داسلامي امارت دمقرراتو او اصولونه دومره ښه مخلصانه پیروې کوي چېد همدې ځانګړتیا پهلرلو سره د محترم حقاني صاحب مجاهد ځوی خلیفه سراج الدین حقاني حفظه الله

داسلامي امارت په تشکيل کې دامير المؤمنين نايب دی ، ددې باوجو ميډيا، نړيوال او کورنې استخبارات دهغه په مشرۍ جلا حقاني شبکه نه هيروي خامخا يې يادوي چې داکار په حقيقت کې ددښمن دماتې او شکست نښه ده اوښکاري چې دمجاهدينو دسپېځلي وحدت په وړاندې يې دمقاومت روحيه بايللې

او هر چې دکابل دمزدور رژيم تازه دعوه ده ، بې دليله او بې اسنادو ده، هرکله چې هم دکابل د امريکايې رژيم استخباراتې دستګاوې پاته راځي بيا دخپل شرم پټولو پړه په مجاهدينو ور اچوي ، کله دبهرنيو استخباراتو نومونه اخلي چې ګواکي دا دپلانۍ شبکې کارو.... او داد پلاني هېواد په مرسته اوشو... خو که دا اومنو چې بالفرض داټول سهې دي نوبيا لاسپوڅي ته څه کوي، ته دکوممرض دوا يې؟ بيا خو ته زهر اوخوره او په واز کومې خپل شکست اومنه او اعتراف وکړه چې دفلاني .... او فلانۍ ډلې سره دمقاومت توان نلرم ! خو پوهيږو ددې ټول پروپاګند ترشا نور عزايم لري امريکادملکيانو دتلفاتو او زيان سلنې په ډېرولو سره غواړي په ولس کې ترهه خوره کړي عموما امريکايان او دهغوی متحدين په دغسی کارونو مجاهدين بدناموي ، په ولس کې دمجاهدينو باور او اعتماد ته زيان رسوي څو ولس هغوی تجريد کړي او دملاتړ څخه يې محروم شي.

امريکا چې په ټولنۍ کې ددغه ډول مجرمانه بريدونوبنسټ ايښودونکي ده، دټرمپ په ولسمشر کيدو سره يې په دغه وحشيانه ستراتيژې کې د تيزولو پريکړه کړې دکتونکو په نظر امريکا دجګړې په دوام کې که يو لورته لاسپوڅی رژيم خپلو موخو ته محتاج ساتل غواړي بل خوا دامريکا ولس ته ذهنيت ورکوي چې دامريکا دګټو په ضد جنګيدونګو دځپلولپاره دادی دومره خطرناک بريدونه ترسره کوي او که ددنيا په هر سر کې دامريکا مخالفين شتون ولري هغوی ته به ور رسي او په ځپلوبه يې لاس پورې کړي ليکن همدې وحشيانه پاليسۍ له امله په ټولنۍ کې امريکايې وګړي دامنيتي ګواښونو سره مخ دي ، هغوی په هيڅ هېواد کې په خلاصو پښو نشي ګرځيدلی دنړۍ خلک تري کرکه او نفرت لري که راتلونکي کې هم امريکا له دغه روش څخه لاس په سر نشوه په وړاندې به يې دنړيوالو عکس العملونه خورا هيښوونکي وي

هو! په دا وروستيو کې طالبانو وکړای شول چې دنړۍ يوشمير هېوادوته ډاډ اوقناعت ورکړي چې دوی هيڅ هېواد ته ګواښ او خطر ندي ، چې په سبب يې په سيمه او نړۍ کې اوس يولوی شمير هېوادونه په دې باوردي چې طالبان دخپل هېواد نه په دفاع کولو کې حق په جانب دي او هم دامني چې طالبان د هيڅ بهرني هېواد ته نه ګواښ دي او نه خطر، دې کار امريکا په ديپلوماتيک ډګر کې ديولړ ستونزو سره مخ کړه ځکه امريکا نه غوښتل چې دنړۍ په هېوادو کې ځينې يې دطالبانو په باب دغسي ـ يرداشت اوسوچ ولري

اویادي څوک په نړۍ کې دطالبانو په اړه نرم دریځ ولري

ددې لپاره چې امریکا نړۍ ته افغانستان دخطرونو ډک وښیي نو په پټه اوښکاره یې افغانستان کې یوداسې نوې جګړه پیل کړې چې پکې به امریکا یان لوی شمیر خلک په شهادت رسوي خو دې ګوته به یې مجاهدینو او طالبانو ته نیسي څو هغه خلک چې دامریکا داشغال په مقابل کې دطالبانو لخوا مقاومت مشروع بولي اوډاروي چې دطالبانو په اړه یې تیروتنه کړې او هغوی دادی څومره ستر جنایتونه سرته رسوي چې عام خلک وژني او ټپیانوي یې

له نیکه مرغه اسلامي امارت هم ښکاري ددښمن دې چالاکۍ ته ځیرډی او کوښښ کړي چې ترولس او نړۍ خپل رښتینی غږورسوي او نړیوال د واقعیتونو خبراوساتي هم په افغانستان کې دامریکایانو لخوا روان جنایتونه او ظلمونه نړۍ ته یو، یو ورښکاره کړي دغه وجه ده چې خلک هم په نړۍ کې تردېره ځایه طالبان مظلوم بولي او مبارزه یې روا او مشروع ګڼي.

ولې طالبانو تل ثابته کړې چې د خپل عام ولس په باب نهایتي محتاطانه رویه لري او دمشرتابه لخوا کشران مجاهدین په ځینو پیښو کې دنه احیتاط کولو په وجه تهدید شوي حتی ځینې یې محاکمه کړې هم دي په خاصه توګه داسلامي امارت اوسنی امیر المؤمنین(شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخنذ زاده حفظه الله) دولس دحقوقونه په دفاع کې خورا جدي، حساس او متوجه دی او تل پخپلو ویناوو کې مجاهدین متوجه کوي چې دولس له زورولو ډډه وکړئ ، نوبناً دا څنګه کیدای شي چې داسلامي امارت په لیکو کې یوځوک دومره ستر خونړی او وژونکی برید طرحه او ترسره کړي ؟ هیڅکله نه!

رازو دیته چې دپلازمینې وروستۍ خونړۍ پیښه دټرمپ دجګړه مارې تګلارې پیل دی هم دیته په پام دځینو شننکو په باور یاد برید د ټانکر په واسطه نه بلکې د فضاء څخه توغول شوی بم یا مزایل دی ځکه که ټانکر وای شاوخواته یې تخریب ډیر کاوه په زمکه کې یې دومره ژوره کنده نه جوړوله کومه چې ددغه برید له املـه رامنځته شوې

دځینو کتونکو په اند: امریکایان غواړي هغه خلک هم په دغه ډول مرموزو بریدونو ترسره کولو سره چوپ کړي څوک چې په دا وروستیو کې دسولې لپاره غږونه پورته کوي او یا دسولې لپاره کار کوي کوښښ کوي هغوی هم دجګړې په دوام قانع کړي

او دامریکایانو په حکم دبرید وروسته په ورځطائي سره داشرف غني لخوا دځینو بندیانو اعدامولو ګواښ ددې ښکارندوی دی چې دسولې شعارونه حقیقت نلري ، ځکه دبندیانو داعدام په صورت کې به طبعاً په طالبانو کې هم دغچ او انتقام جذبه راپورته شي اوممکن هغوی هم امریکا او مزدور رژیم ته جوابِ ترکې په ترکې ووایي.

ټرمپ په څلورو کې حیران دی

زخمي افغان

په دوو کې د حیران اصطلاح خو به مو ډیره اوریدلي وي مګر په څلورو کې د حیرانیدلو مصداق مو شاید چیرته نه وي تر نظر شوی.همدا اوس نړیوالې رسنۍ خبر ورکوي چې د افغانستان د موضوع په اړه د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ته د خپلو پوځي سلاکارانو او تحقیقاتو مراکزو لخوا څلور ستراتیژۍ وړاندې شوي دي چې په پایله کې یې دغه ولسمشر په څلورو کې حیران شوی، نو ځکه یې په تیرو څلورو میاشتو کې د افغانستان په اړه کوم قاطع تصمیم نه دی نیولی.

د فارین افیرز په نوم امریکایي ورځپاڼې په دې وروستیو کې د امریکایي تحقیقاتي مرکز (رانډ کارپوریشن) یوه څېړنیزه مقاله خپره کړې چې په کې د امریکایي ولسمشر له یادې حیرانۍ نه حکایت کوي.

د مقالې لیکوال سمیر لالوالي چې د رانډ کارپوریشن وتلې څېړونکی دی وایي چې د ډونالډ ټرامپ په میز همدا اوس د افغانستان په رابطه څلور طرحې پرتې دي چې نوموړی یې له یوه قاطع تصمیم نیولو راګرځولی او تر اوسه د کومې طرحې په انتخاب نه دی توانیدلی.

دغه طرحې چې هره یوه اوږد تحلیل له ځان سره لري د افغانستان د قضیې بیلابیل اړخونه راسپړي او د امریکایي پوځ د بریا لپاره د ملي پخلاینې،دایمي اډو،دولت جوړونې او نفوذ د پراخوالي تر عنوانونو لاندې بیلابیلې ستراتیژۍ په کار اچول ضروري بولي. په دې طرحو کې ځینې په اوږده جنګ ټینګار لري خو ځینې نورې یې د لنډ مهالي جنګ او بریا په مټ د اوړو د پوزې جوړول او له افغانستانه د امریکایي پوځ ایستل یوه داسې ستراتیژي بولي چې په مټ یې امریکایان کولای شي له دې ستړي کوونکي جګړې څخه په ابرومندانه ډول ځان وباسي.

له دې متعددو طرحو څخه ښکاري چې امریکایي چارواکي هم د افغانستان په مسئله کې اوس تر هغه حده ګنګس او حواس یې بایللي لکه شورویان چې د خپل اشغال په وروستیو کلونو کې له بشپړې سردرګمۍ سره مخامخ وو. د طرحو له ماهیت څخه دا راز هم رابرسیره کیږي چې امریکایان غواړي له افغانستان څخه پښې سپکې او په دې توګه د خپل ځاني او مالي زیان دغه زخم وتړي.خو دا چې د جګړې له ډګره بې مقدمې تېښته به یې په

یواړخیز شکست او ماته تعبیر شي نو هڅه کوي چې اقلا یوه د اوړو پوزه ځان ته جوړه کړي تر څو د امریکا نړیوال حیثیت له دې زیات له خاورو سره خاورې نه شي.

د فارین افیرز له دې څیړنې مقالې څخه ښکاري چې دامریکایانو له نظره طالبان اوس د پخوا په نسبت ډیر په قوي دریځ کې دي. چې هم په جنګي لحاظ آزموده او تر دې حده پیاوړي شوي چې پوځي شکست ورکول یا ناممکن کار ګرځیدلی. بل اړخ ته په اولس کې د طالبانو ملاتړ زیات شوی او په سیمه ایزه او نړیواله کچه توانیدلي چې سیاسي وجهه او اعتبار وموميي او خپل داعیه په سمه توګه نړیوالو ته تشریح کړي.

که څه هم د فارین آفیرز ورځپاڼې په خبره د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په څلورو کې حیران دی او څلور طرحې یې په وړاندې پرتې دي. مګر د چارو شنونکي او د افغانستان له قضایاوو باخبره تحلیګران په دې نظر دي چې ټرمپ که په رښتیا غواړي له دې حیرانۍ او سرګردانۍ ځان وباسي نو باید د څلورو طرحو په ځای په پنځمه طرحه عمل وکړي چې هغه له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو بلا قید وشرطه ایستل دي.

که ټرمپ په دې فکر وي چې په افغانستان کې د پوځیانو په زیاتولو او جنګي ستراتیژیو دغه قضیه یوطرفه او جګړه وګټي نو په دې اړه دې لږ له پخوانیو جنګي قومندانانو مک کرسټال، ډیوډ پیټرایوس، جان آلن او نورو څخه وپوښتي تر څو د مجاهدینو د مقاومت له اصلي حجم او د جګړې له سختوالي یې خبر کړي.

که یې د دولت جوړونې تر عنوان لاندې دې ته تمه وي چې د غني او عبدالله فرسوده رژیم به د فساد او زوال له ګردابه را وباسي او یومعتبر له اولسي ملاتړ څخه برخمن دولت به ترې جوړ کړي نو په دې اړه دې د سیګار پلټونکې اداري له مشر جان سوپکو څخه پوښتنه وکړي چې ګډوله رژیم د فساد او اختلاس په څومره ژور ډنډ کې پروت دی چې تصفیه یې شاید یو ناممکن امر وباله شي.

نو چې کله جګړه هم د ګټلو امکان ونلري او په کابل کې پراشوټ شوی ګوډګی رژیم هم ددې وړ نه وي چې لویدلی اعتبار یې اعاده او اولس وربانديې باور وکړي، په دې سربیره د سیمې شرایط هم د امریکایي اشغال له دوام سره په ټکر کې واقع وي. نو امریکایان له دې پرته بله لار نلري چې خپلې بسترې وتړي او په هماغه نرۍ لار چې راغلي دي بیرته لاړ شي او دا وطن خپلو اوسیدونکو ته پریږدي.

زمور په نظر که په څلورو کې حیران ټرمپ په دې پنځمه طرحه عمل وکړي نه یوازې به یې خپل پوځ، اقتصاد او هیواد ته ګټه کړې وي بلکې افغان اولس به یې هم د اوږدې جګړې له اوره ژغورلی وي، ځکه د جګړې اصلي زړی او علت العلل زمور په اسلامي هیواد کې د امریکایي کافرو پوځیانو شتون دی چې په دیني، عقلي او وجداني لحاظ هیڅا ته هم د منلو وړ نه دی نو ځکه یې په وړاندې جهاد ته دوام ورکوي.

امریکا په سعودي عربستان کوم ډول وسلې پلوري؟

خبیر احمد م

وړاندې تردې چې سعودي عربستان ته د امریکا ولسمشر (ټرامپ) سفر وکړي، واشنګټن له سعودي عربستان سره د ۱۰۹.۷ ملیارد ډالرو په ارزښت بیساری نظامي ترون نهایي کړی وو له انتظار سره سم دروانې میاشتې (مئ) په ۲۱ نیټه د امریکا ولسمشر ټرامپ او د سعودي پاچا ملک سلمان دواړو په رسمي ډول په دغو قراردادونو لاسلیکونه وکړل.

د معلوماتو له مخې د امریکا او سعودي عربستان واکمنو ۱۹ سندونه لاسلیک کړل چې ۸ قلمونه پکې د پرمختللو وسلو خرڅلاو چې قیمت یې ۱۲.۵ ملیارده ډالر کیږي.

دغه قراردادونه چې څه وخت د امریکا دفاع وزارت د وسلو جوړولو کمپنیانو ته وسپاري او پیسې یې له سعودي عربستان څخه وصول کړي وي له هماغه نیټې او مرحلې ورسته د اجرا او عملي کیدو وړدي.

د ۹۵ میلیارد ډالرو په ارزښت نور ۳۴ پوځي تفاهمنامي هم لاسلیک شوي چې له مخې به امریکا د سعودي عربستان د ضرورت وړ پوځي او ضمنا تجارتي اړتیاوي پوره کوي.

په دغه نظامي قرارداد کې توافق شوی چې امریکا به سعودي عربستان ته د (پاټرویټ، اوتادلاک هد مارتین) دفاعي توغندي ورکوي

امریکا یا نوتراوسه د (پاټرویټ) توغندي په ځینو ملګرو هیوادونو پلوري، خود (تاد) دفاعي سیستم یې تنها په (متحدا ماراتو) پلورلی دی، چې سعودي عربستان یې دوهم هیواد بلل کیږي.

د سپیني ماڼۍ په وینا د (تاد) دفاعي سیستم داوړتیالري چې په نصبولو سره یې د سیمې او منطقې هر ډول پوځي ګواښونه او خطرات ډب اوخنثی کړي.

د معلوماتو له مخې (تاد) هغه توغندی دی چې د بالیستیکي توغندي مخه نیسي او خنثی کوي یې

دغه راز ویل کیږي چې تاد داتومي بم دتباهیو اوخساراتو دکچې کمولوصلاحیت هم لري

نوموړی توغندی چې امریکایي کمپنی (لاک هیډ مارټین) له لوري په کال ۱۹۸۷ طرحه اوډیزاین شوپه ۱۹۹۲ کې د ۶۸۹ میلونو ډالروپه لګښت دامریکا دفاعي سیسیتم ته وسپارل شو.

تاد ۹۰۰ کیلوګرامه وزن ،۱۷ متره اوږدوالي ، ۳۴ سانتي متره زخامت اوپه یوې ثانیې کې دوه کلومتره سرعت لري، په همدې ډول نوموړي توغندی (۱۰۰۰) کلومتره ځغل (۱۵۰) کلومتره لوړپروازاوداسې پرمختللي رادارونه لري چې دخپل غلیم هرډول سپوګمکیزنظام خاموشه او غافلګیر کړي.

په دې ورستیو کې امریکا دشمالي کوریا دممکنه ګوابنو دمخنیوي په غرض دجنوبي کوریاپه سرحدونو دتاد شاوخوا لس توغندي لګولي چې امریکاتیره میاشت جنوبي کوریاوهڅوله چې دنصب شوو توغندیو لګښت چې (یوملیارد) ډالرکیږي بائیدامریکاته ورکړي.

دامریکا اوچین داړیکودترینګوالیتوب یو دلیل داهم ده چې چین تادتوغندي دسیمي او منطقي دکنټرولو امریکایي هڅه بولو، خوامریکاوایي چې نه تاد صرف دفاعي موخي لري.

دسعودي اوامریکا په ورستي پوځي قراردادکې کې څه مهم قلمونه پکې دفاعي توغندي یادیږي اودنورو وسلوجزیات ندي په ډاګه شوي خودسعودي ځینې سرچینې وایي چې مختلف النوعه توپخاني ، ټانګونه ، زرهي نقلیه وسلي اوډول ډول چورلکې هم پکې شاملي دي

سعودي عربستان له تیرولسو کلونوراهیسې له امریکا څخه دپاتم وړوسلي اوپرمختللي پوځي وسائل ترلاسه کړي اوپوځ یې دسیمي په کچه مجهز بلل کیږي ، خوله نوو امریکایي ټرونوسره بریښي چې دسعودي هوایی ، ځمکنی اوبحري قواوي به ددې وړتیا پیدا کړي ترڅودد دفاعي سیسیتم اودځارد اطلاعاتي تجهیز په مرسته د سیمي دهرډول ګوابنې اوخطرمخه ډب کړي.

دامریکا دنوي ولسمشرپه توګه ټرامپ له سعودي عربستان سره خپل ستردفاعي اوپوځي ټرون لاسلیک کړ، تردې وړاندې فکرکیده چې ټرمپ به له اسلامي هیوادونوسره هیڅ ډول نظامي اوپوځي ټرونونه ونه پالي ، ځکه داسې اټکل کیده چې ټرمپ

به په سیمه اونړۍ کې د اسلامي هیواد ونو په باب هرهغه چلند او برخورد ته اهمیت ورکوي څه چې اسرائیلو ته ګوابښ او ضرر راونه ټوکوي .

خوله سعودي عربستان سره د ټرمپ له دومره نیږدي روابطو څخه په ډاګه کیږي چې امریکا نور دازغم نه لري ترڅو ایران په پوځي او سیاسي میدان کې موثر او مطرح هیواد وویني اوله یوې نه بلې ورځې ته یې تحرکات په زیاتیدو شي

نوامریکا د ایران د مهار لو سره غواړي په اول قدم کې یا د هیواد له خپلو ګاونډیو هیوادونو سره په شخړو کې مصروف کړي ،ګاونډیان یې په هغو وسلو او جنګي جبخانو مالامال کړي چې ایران ورڅخه په اسانی ګوابنل کیدای شي .

له بل اړخ ټرمپ اقتصاد او تجارت ته هم زیات اهمیت ورکوي ، سعودي عربستان هغه هیواد دی چې د نړۍ تربل هرهیواده د امریکا وسلي په درنه اوجګه بیه اخلي او دغه ډول سوداد ټرمپ لپاره بهترین چانس اوښه موقع بلل کیږي .

له سعودي سره په ترسره شوو قراردادونو کې له یوه لوري ایران چې د امریکا او سعودي دواړو غلیم هیواد بلل کیږي ترګوابښ او فشارلاندي نیول کیدای شي ، بل لورته ټرمپ هم د خپلو وسلو د تجارت له املې په لسګونه ملیارد ونه ډالرترګوتو کوي .

چې په دواړو برخو کې امریکا په ګټه کې ده چې هم یې غلیم هیواد ټکول کیږي او هم یې وسلي د سرو زرو په بیه پلورل کیږي

تردې وړاندې د امریکا مخکیني ولسمشر اوباما هم په خپله دورکې له سعودي عربستان سره ۴۲ پوځي او تجارتي قرارداد ونه لاسلیک کړي وو چې ارزښت یې ۱۱۵ ملیارده ډالروو .

په هغو قراردادونو کې د بوئینګ پرمختللي اف–۱۵ اس اِی الوتکي ، ام ۱ ای ۲ اس ټانګونه ، د پایټریایت توغندي او نورې ډول ډول جنګي وسائیل شامل وو .

له سعودي عربستان سره د امریکا په دومره پریمانه پوځي قرارداد ونو باندې ایران خپله کلکه نارضایتي په ډاګه کړي چې امریکا غواړي په فارس خلیج کې د ایران او سعودي ترمنځ شخړي راوټوکوي

د ایران ولسمشر (حسن روحاني) سعودي ته د ټرمپ په سفر او په کوربه هیواد د مهلکو اوخطرناکو وسلو د پلورلو موضوع ته په اشاري وئیلي چې امریکا غواړي د سعودي او ایران په زخائیرو قبضه ټینګه کړي ، اسرائیلي رژیم ته مشروعیت ورکړي او د فلسطین د خلکو تاریخي مقاومت او قربانی له خاورو لاندي کړي ؛ چې د روحاني په فکر امریکا به په دغه چال او نیرنګ کې کامیابه نشي .

منصوري عمليات

او د جهاد بختوره مياشت!!

خليل-عزيز

دمنصوري عملياتو له مبارک پيل اواعلان څخه وروسته دهيواد له هرکونج اوکنار څخه دحيرانوونکو فتوحاتو اوجهادي لاسته راوړنو تاوده زيري په ډيري چټکی سره راروان دي.

دبدخشان، غزنی،بادغيس،هلمند اوفارياب کې دولسوالیو ترکچي فتوحات ،دکندهار په شاولي کوټ اومعروف ولسوالیوکې دمجاهدينو په لويه پيمانه عمليات، په زابل کې دمهمو عسکري مراکزو فتحه کيدل اوپه بغلان ،کندوز،خوست اوننگرهار کې دګڼو امريکايی عسکرو په شمول دمزدور رژيم دلسهاوو ګوډاګيو پوځيانو مرګ ژوبلي بزدل دښمن دومره بې حوصلي اوسربداله کړی چې اوس دجان کيري منتخب ولسمشر هم ديني مناسبتونو ته پناه ور وړي او دروژي مياشت ديوه سپرپه ډول اسلامي امارت ته مخي ته ږدي.

اشرف غني تيرمابنام په خپل پيغام کې دروژي داهميت دبيانولو ترڅنګ وغوښتل چې دروژي دمياشتي په احترام دي طالبان جګړه ودروي.

اشرف غني اوداروډسته يې تراوسه داسې فکر کوي چې طالبان د دوئ په څير دکوم سياسي امتياز په لټه اومبارزه کې دادومره ستري قربانی اوفداکاری سرته رسوي، چې ګواکې دروژي دبختوري مياشتي په راتګ خپله مبارزه اومعرکه ودروي .

دکابل مزدوررژيم او حاميان يې بائيد پوه شي چې اسلامي امارت ديوې مقدسي فريضي- اودينې مکلفيت له مخي داشغالګرواودهغوئ دجواسيسو او همکارانو په خلاف جهاد اومبارزه پرمخ بيايي اوالله تعالی دلاري غازيان او مجاهدين په دې خبره ټينګه عقيده اوپوخ باور لري

چې ترنورو میاشتو زیات به الله تعالی ددوئ دجهادي هڅو او فداکاریواجرونه اوبدلي ورکوي.

ځکه دمجاهدینو په وړاندي داستردلیل اوتاریخي پس منظر پروت دی چې دبدر لویه غزا اودمکي مکرمي ستره فتحه اونوردیته ورته غزوات چې مشري یې خپله داسلام ستر پیغمبرصلی الله علیه وسلم ترسره کړي داتول بري متعال رب جل جلاله درمضان په میاشت اوپه همدي بختورو شپوورځوکې پري لورولي دي .

اسلامي امارت به یوه شیبه هم هغه معرکه او مبارزه اوږده اوجاري ونه ساتي چې مطهره شریعت یې دترسره کولو حکم اوفرمان ورنکړي که هغه په روژي کې وي اویاله روژي بغیر.

له بل لوري که اشرف غني اوهغه څوک چې له طالب څخه په روژه کې دبریدونو ددرولو مطالبه لري که په خپلي دغه غوښتني کې صادق وي نو بیا له یرغلګرو اووحشي- امریکایانو څخه ولي دامطالبه نکوي چې لږ ترلږه دي دروژي په میاشت دهوایی ناترسه بمباریو اوډرون بریدونو لړی ودروي ؟

مونږ پوهیږو چې دامریکا اوطاغوت دغه دست نشانده څیري اوحلقه بګوش غلامان نه اسلام ته ژمنتیا لري نه روژي اونه بل کوم الهي امر ته،بلکي په هغه صورت کې چې دمجاهدینو له لوري درونډ ګوزار وویني نوبیا دعامه ذهنیت داغفال اواخلال لپاره منفی اوزهر الوده تبلیغات په کاراچوي کله وایی چې دابرید په ګاونډي هیواد پاکستان کې طرحه شوی وو کله وایی چې روسانو طالبانو ته نوي وسلي ورکړي اوکله وایي چې طالبان دروژي دمیاشتي درناوی هم نلري !!

له متعال رب جل جلاله څخه ارزو لرو چې دروژي دمبارکي میاشتي په برکت دمجاهدینو په بریدونو اومنصوري فاتحانه عملیاتو کې مذیدقوت اوموثریت وروښنې اودبې رحمه امریکایانو اوغلامانو پټ اوښکاره پلانونه چې اصلی موخه یې داسلام اوافغانیت تباهي او له منځه وړل دي دمجاهدینو په مټ نیست اونابود کړي او زمونږ ګران ټاټوبی ددغو کثیفو لښکرو اوجاسوسانو له ناولو پنجو څخه وژغوري.

امین یارب العالمین

په شاهين قول اردو د ترسره شويو عملياتو

له تنظيموونکي مجاهد سره مرکه

درنو لوستونکو!

څو اونۍ وړاندې د افغانستان په شمال بلخ ولايت کې د حکومت په يوه ستره پوځي اډه شاهين قول اردو باندې د اسلامي امارت د استشهادي زلميانو لخوا يو مؤثر او بريالی برید ترسره شو چې به نتيجه کې يې د سلګونو عسکرو په مرګ او ژوبله سربيره ټول ګوډاګي حکومت ته ټکان ورکړ تر دې چې له امله يې د دفاع وزير او لوی درستيز خپلې دندې هم وبايللې. ددې عملياتو په اړه مو د عملياتو له تنظيموونکي مجاهد سره مرکه کړې چې ستاسو پام ورته راګرځوو.

پوښتنه : له هر څه مخکې تاسو ته هر کلی وايو که لومړی په لنډو ځان را معرفي کړئ.

ځـــواب : زما نوم عبيد الله حسام د بلخ په ولايت کې د ګوډاګی اداري په شاهين قول اردو د وروستي مبارک استشهادي برید تنظيموونکی او د اسلامي امارت د سپيځلي جهادي لښکر يو مجاهد يم .

پوښتنه : که د بلخ ولايت په شاهين قول اردو د حملې په اړه معلومات راکړئ، دا حمله څرنګه پلان شوه؟ ولې دا هدف انتخاب شو؟ او څرنګه حمله ترسره شوه؟

ځـــواب : د اسلامي امارت د قيادت او مربوطه نظامي مسؤلينو له لوري د عمري عملياتو د ستراتيژي يوه مهمه برخه د کورنيو او بهرنيو غليمانو په مهمو ارزښت لرونکو، خوندي اهدافو د ډول ډول استشهادي عملياتو ترسره کول وو او څرنګه چې همیشه ددښمن په مهمو اهدافو د استشهادي عملياتو تر سره کول تل د اسلامي امارت د کلنيو عملياتو د ستراتيژی يوه مهمه برخه وي نو ځکه د اسلامي امارت د اړونده کشفي ارګانونو له لوري په پرلپسي ډول ددښمن د مهمو اهدافو تلاش کيږي او تر تعقيب لاندې يې وي ، دکومو اهدافو په اړه چې معلومات بشپړ شي نو بيا ددغو اهدافو له منځه د يو معيار له مخې انتخاب کيږي او کوم اهداف چې د بريدونو لپاره انتخاب شي بيا د

اسلامي امارت د اړونده نظامي مسؤلينو له لوري پرې د بريدونو پلانونه طرحه کيږي.

په بلخ ولايت کې د ګوډاګي اداري په شاهين قول اردو د برید پلان په داسې ډول و چې اول به د دې قول اردو په ليکو کې ددې قول اردو د نظامي تاسيساتو، تشکيلاتو او امنيتي تدابيرو په اړه د بشپړو اطلاعاتو د راټولولو لپاره د خاص استشهادي ګروپ ځلورو تنو استشهاديانو ته نفوذ ورکول کيږي الحمد لله دغه پروسه په کاميابی سره سرته ورسيده د خاص استشهادي ګروپ استشهاديانو ته د قول اردو په ليکو کې نفوذ ورکړل شو او بيا ددوی د دقيقو راټولو شوو اطلاعاتو په اساس د قول اردو له امنيتي کمربندونو څخه د برید کوونکی استشهادي ګروپ د خوندي تيريدنې تکتيک وټاکل شو، دبرید لپاره استشهاديان انتخاب شول او دا وسنجول شوه چې بايد له استشهادي عملياتي ګروپ سره کوم ډول وسائل، وسله او چاوديدونکي مواد وي او څومره وي او د برید لپاره مناسب وخت وټاکل شو او بلاخره د لوی الله په نصرت په بريالی توګه برید سرته ورسيد

په بلخ ولايت کې د ګوډاګي اداري د شاهين قول اردو څکه د برید هدف وګرځيدله چې له دغې قول اردو څخه صليبي اشغالګرو په شمال کې زمونږ د مظلوم ولس د څورولو ، بمبارولو او قتلولولپاره ډير کار اخيست داسلامي امارت د نظامي مسؤلينو او مجاهدينو په ضد د کمانډويي عملياتو طرحې همدلته جوړيږي او له همدې ځای څخه رهبري او پلي کيږي د ا فغانستان داسلامي امارت د کندوز د محترم والي قهرمان شهيد ملا عبد السلام اخوند او د بغلان د محترم والي قهرمان شهيد مولوي لعل محمد محمدي د شهيد کولو پلانونه همدلته جوړ شوي وو، د دې قول اردو ظالمو او پخوانيو کمونيستو جنرالانو پکې لاس درلود، يرغلګرو عسکرو ته دوی جاسوسی کړې وه او له همدې ځايه عملې شوي وو او ددې قول اردو د ظالمو کمونيستو جنرالانو او عسکرو لاسونه زمونږ د مجاهدينو او اولس په وينو سره وو .

په قول اردو باندې برید په داسې ډول ترسره شو چې لس تنه استشهادي مجاهد ين چې نه روزل شوي وو له ګوډاګي اردو څخه په غنيمت شوو دوه عرادې رنجرو موټرو کې چې ۷ R.P.G توغندي ويشتونکي ، پيکا ماشيندار ، ايم ۱۶ ټوپکونه ، نارنجک انداز او استشهادي واسکټونه ورسره وو د قول اردو له لومړيو دوه پاټکو څه په داسې تکتيک تير شول چې يو استشهادي يي زخمي معرفي کاوه پتې يې هم پرې لږولې وې سيرون يې هم ورته چالان کړی وو او ورته ويلې يې چې مونږ د فارياب له کنډک نه راغلي يو او دا زخمي راسره ده په دريم پاټک کې دوی هڅه وکړه چې بې د وسلې له تسليمی نه له جنګ پرته تير شي خو کله چې په تالاشي ولاړو اجيرو عسکرو د وسلې په تسليمی ټينګار وکړ هغوی يې له منځه يووړل او په ډيره ببړه يې ځانونه د قول اردو طعام خوری ته ورسول يوه استشهادي په طعام خوری کې دننه استشهادي واسکټيز برید ترسره کړه او بل له طعام خوری نه بهر د راټولو شوو عسکرو او صاحب

منصبانو په منځ کې ځانته چاودنه ورکړه او مبارک استشهادي بريد يې ترسره کړ پاتې اتو تنو استشهاديانو څخه څو تنو يې د پاتې صاحب منصبانو او عسکرو په وژلو پيل وکړ او نورو يې له مخکې نه ټاکل شوو ځايونو ته ځانونه ورسول او بريدونه يې پيل کړل بريدونه چې د ماسپښين له يوې نيمې بجې څخه شروع شوي وو د ماښام تر شپږو بجو يې دوام وکړ.

پوښتنه : د حملې د تلفاتو په اړه په رسنيو کې بيلابيل ارقام ذکر شول. دښمن لومړی د ۸ کسانو مرګ ژوبله ومنله وروسته يې تر يو نيم سل پورې مړه او همدومره زخميان ومنل. خو ازادو رسنيو د مړو شمير تر ۲۵۰ زيات وښود. ستاسو معلومات په دې اړه څه دي چې په دې حمله کې دښمن ته څومره ځاني او مالي زيان رسيدلی دی؟

ځواب : زمونږ د معلوماتو له مخې چې له خپلو باوري سرچينو څخه مو تر لاسه کړي په دې برید کې تر پنځه سوو پورې عسکر وژل شوي او سلګونه تنه نور ټپيان شوي او دښمن ته دروند مالي زيان رسيدلی.

پوښتنه : دښمن ادعا کوله چې مجاهدينو په مسجد حمله کړې او په لمانځه ولاړ عسکر يې ويشتلي دي. واقعيت څه و ؟ که يې په اړه معلومات راکړئ؟

ځواب : په مساجدو بريدونه د اسلامي امارت په جهادي جنګي ستراتيژی کې نشته مرحوم امیرالمؤمنین رحمه الله ، شهید امیر المؤمنین تقبله الله او امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله په دې اړه د سپيڅلي اسلامي شريعت د اصولو په رڼا کې تل د اسلامي امارت مجاهدينو ته ځانګړې توصيې او رسمي اوامر صادر کړي چې بايد په مساجدو له بريدنو څخه مجاهدين ډډه وکړي ولو که ددښمن مهم اهداف هم پکې وي که مونږ واقعاً په مساجدو بريدونه کولی نو تر اوسه به مو ددښمن له هغو چارواکو څخه چې په تشريفاتي ډول د اولس د غولونې لپاره مساجدو ته راځي تر برید لاندې نيولي واى ډير عسکر په طعام خوري او له مسجد نه بهر په نښه شوی د قول اردو د مسجد په داخل او بهر کې چې کوم اثار د مرميو د لړيدو او يو څه تخريب د مطبوعاتو په تصويرونو کې ښکاري دا ټول اثار دوار خطا دښمن د ډزو له املې دي او يا کيدای شي دا د استشهادي مجاهدينو د بدنامولو په موخه د مطبوعاتو لپاره ددښمن يو جوړ شوی تمثيل وي.

مونږ نه په مسجد برید کړی نه مو مسجد هدف و نه په مساجدو بريدونه کوو دا زمونږ دښمنان دي چې په تيرو پنځلسو کلونو کې د جوماتونو، مدرسو او نورو عامه ځايونو بمبار د جنګي ستراتيژی يوه مهمه برخه پاتې شوې او تر اوسه يې سلګونه مساجد او مدرسې بمبار او تخريب کړي.

پوښتنه : دښمن ادعا وکړه چې دغه ډول سترې حملې د اسلامي امارت د مجاهدينو له پوځي توان څخه لوړې دي او په دې کې بهرنيو استخباراتو ورسره همکاري کړې ده. په دې اړه ستاسو نظر څه دی؟

ځـــواب : پردیو استخباراتو ته له باطل سره د معرکـي پـه ډګـر کـې د اسـلامي امـارت د اتلـو مجاهـدینو او استشـهادیانو د حیرانوونکـو فتحـو او بریاوو منسوبول ددښمن د رواني او تبلیغاتي جکړې یو مشهور تکتیک دی.

دښمن استخباراتي او امنیتي ارګانونه تل چې داسـلامي امـارت د مجاهـدینو او استشـهادیانو دبریدونو په مخکې له مخکې کشـف او جلـو ګیـري کـې پـاتې راشي دا ډول تورونـه لګـوي. الحمـد لله زمونږ جهاد او مبارزه د یوې برحقې داعیي لپـاره ده زمونږ جګړه د صلیبیانو او منافقـانو د ظلـم او فسـاد په ضد جګړه ده د افغانستان د مؤمن اولس په زړونو کې لوی الله جل جلاله زمونږ کمسـاری محبـت القـا کړی او اولـس راسره همکـار دی. دلـوی الله نصرت راسره دی او دداسې قهرمان ملت رښتیني فرزنـدان یو چې تل یـې د نـړی لـه سـترو زبرځواکونـو سره پـه تـش لاس مقابلـه کـړې ده او ماتـه یـې ورکـړې ده مونږ نه د چا مرستې تـه اړ یـو او نـه ځـوک مرسـته راسره کوي د لوی الله پـه نصـرت مـو پـلان هـم پـه خپله ترتیب کړی او اجرآت مو هـم پـه خپلـه تـرسره کړي الحمد لله اوس داسلامي امارت عادي مجاهـد او دلګـی مشر د نړی له پرمختللو پوځونو د جنرالانو نه زیات مهارت او زیاته عملي تجربه لري او پـه دې حقیقت واضح دلیل د اسلامي امـارت د مجاهـدینو سره د مقابلې په ډګر کـې د صـلیبي نـاټو د پوځونـو دجنرالانو ښکاره ماتې او ناکامي ده .

پوښتنه : د بلخ برید په ځاني تلفـاتو سربیـره پـه دښمن نور کوم اغیز کړئ او ستاسو په باور دغه حملـه به په هیواد کې په روان جهاد او په خاص ډول د شـمال ولایاتو په جنګي حالت کوم ډول تاثیر وکړي؟

ځـــواب : الحمد لله ثم الحمـد لله وضـیعت ته چې ژور نظر کوو او خپل کشفي راپورونه مطالعـه کوو دې مبارک برید دښمن ته پـه سـیاسي او رواني لحـاظ سـخته ضربـه ورکـړې ده تاسـې ولیـدل چـې ددښـمن پـه چوکیـو پـورې سریښ لـوړ رتبـه نظـامي چـارواکي چـې پـه اصـطلاح ددفـاع وزیـر او لـوی درستیز یې هم پکې شامل وو له ډیره شرمـه اسـتعفا تـه اړ شـول ګـوډاګی اداري پـه اصـطلاح مـلي ویـر اعلان کړ دې برید د ګـډاګی اداري پـه هسـته کـې سـخته بـې بـاوري رامنځتـه کـړې ده او ددښـمن د عسکرو مورال او امنیتـي حیثیـت یـې لـه صـفر سره ضرب کړ الحمد لله له دې برید سره په شمال کـې د مجاهدینو مـورال لا لـوړ شـوی ددښـمن د عسـکرو مورال غورځیدلی او که الله ته خوښه وه سږ کال بـه په شمال کې د سترو سوبو او فتحو کال وي .

پوښتنه : د بلخ برید هغـو افغانـانو تـه چـې د پیسو یا غلط فهمـی لـه وجـې د امریکایـانو پـه ګـډه جنګیـږي څـه پیغـام ورکـولای شي دغـه راز هغـه کـورنۍ چـې بـیلاري ځوانـان یـې د امریکـا تـر لاس لاندې اردو او پولیسو ته ورځي دغه برید څـه پیغـام ورکولای شي؟

ځـــواب : دصـلیبیانو ګوډاګیـانو او ددوی کورنیو ته دا برید څرګند پیغامونه لـري او هغـه داسـې چې د صلیبیانو په ملګرتیا کـې خیـر نشـته دصـلیبیانو ملګرتیا په دنیا او آخرت کې ذلت او بربادي ده .

دوی باید د صلیبیانو ملګرتیا پریږي او کورنۍ یې باید خپل ځوانان د صلیب په لاره کې له قرباني کیدونه وژغوري. حق نن سبا هر چاته رسیدلی، دابیله خبره ده چې یو څوک ځان نه پري پوه کوي که یو څوک کوشش وکړی یوه مړی حلاله ډوډی هیر چیرته پیدا کولی شي. دا صلیبان چې نه وو خلکو څه خوړل او په دې کومو هیوادونو کې چې صلیبیان نشته هلته خلک څه خوري آیا هغه کورنۍ چې ځوانان یې د صلیبیانو او ددوی د ګوډاګۍ اداري سره کار نه کوي چا اوریدلي چې له لوږې مړه شوي دي ؟ نو که دوی د صلیبیانو له ملګرتیا نه لاس وانخلي بیابه یې انجام داسې وي لکه د شاهین قول اردو د ظالمو جنرالانو افسرانو او کماندویانو .

پوښتنه : ځینی خلک وایي چې د بلخ په برید کې بهرنیان نه بلکې ټول داخلي عسکر ووژل شول. دوی وایي جهاد یوازې د کافر وژلو ته وایي او دا د دوی په خبره افغان وژنه ده. تاسو دوی ته څه ځواب او وضاحت لرئ؟

ځـــواب : څوک چې له کفارو سره د مسلمانانو په خلاف په جګړه کې همکاري کوي او مسلمانان د کفارو لپاره وژني ، نیسي، ځوروي یې ، په زندان کې یې اچوي او په شهادت یې رسوي او څوک چې له کفارو نه دفاع کوي ، څوک چې د کفارو د تیري په خلاف د مظلومو مسلمانانو د غږ د خاموشولو لپاره د کفارو له لوري تربیه کیږي. ډالري تنخا ګانې ورکول کیږي جنګي وسائل ورکول کیږي ، څوک چې له ظلم او فساد سره همکاري کوي د هغوی ټولو حکم د تیریګرو کفارو په څیر ده په مقابل کې یې جهاد فرض ده او قتلول یې په مسلمانانو واجب دي. داد ولا او برا دعقیدې مسئله ده او ډیره واضحه مسئله ده مونږ دغو منافقینو ته وایو چې که دغه ستاسې سکني لنډغر د کفارو له همکارۍ نه لاس واخلي ساتنه یې ونکړي، جاسوسي ورته ونکړي، ساتنه یي وکړي مونږ او کفار دې سره پریږدي تاسې به شاهدان و اوسئ چې د صلیبي اشغالګرو اشغال به څو ورځې هم په افغانستان کې دوام ونکړي .

پوښتنه : په پای کې که ددښمن په لیکو کې ولاړو عسکرو او ټوپکیانو ته څه پیغام لرئ لطفا یې راسره شریک کړئ.

ځـــواب : مونږ د دښمن په لیکو کې له عسکرو او ټوپکیانو څخه غواړو چې د کفارو اوددوی د ګوډاګۍ اداري ملګرتیا پریږدي په خپل ځان او کورنۍ رحم وکړي خپل مظلوم اولس او په نهایت کې د نړۍ په مظلومو مسلمانانو رحم وکړي او دا ښکاره خبره ده که له کفارو سره دوی ملګرتیا پریږدي د کفارو تیری څو ورځې هم دوام نه کوي د افغانستان د اسلامي امارت غیږ دوی ته خلاصه ده نو که دوی داسې وکړي سر او مال به یې په امن وي او یا دې د خپلو ټوپکونو شپیلۍ په صلیبیانو او له دوی سره په ملګرو ظالمو جنرالانو او ظالمو چارواکو د الله د رضا او د خپلو ګناهونو د کفاري او جبران په خاطر را واړوي او د تل لپاره دې خپل نومونه د اسلام د تاریخ په پاڼو کې په زرینو کرښو ثبت کړي.

امریـــکایي مجـــله،

امریکا باید په افغانستان کې څه وکړي...!؟

لنډیز او تبصره: موسی فرهاد

د (Foreign Affairs) په نوم د امریکا یوې مشهورې او معتبرې مجلې په دې وروستیو کې د افغانستان په اړه یوه مقاله خپره کړه چې ډېرې ځمکنې حقایق یې پکې را سپړلي دي. د مقالې پښتو بڼه لومړی په نن ټکي آسیا ویب پاڼه کې خپره شوې ، د یادې مقالې د اهمیت په وجه به مورِ دلته یوځل بیا د هغې د اصلي متن د لنډیز او خلاصه کولو ترڅنګ، د ځینو ټکو د وضاحت هڅه هم وکړو او د خپلې تبصرې په شکل به یې ورسره یوځای کړو. ترڅو د لوستونکو لپاره د اړونده موضوع په اړه حقایق نور هم واضح کړای شي.

فارن افیرز مجلې، د امریکا لپاره د افغانستان وضعیت له بندوبست سره مخ بللی ، له دې حالت نه د خلاصون لپاره یې د ټرمپ حکومت ته د مشورې په بڼه څلور داسې آپشنونه په مخکې ایښې چې یو یې هم پخپله د مقالې د لیکوال په نظر هم قابل عمل نه بریښي.

مجله وایي، امریکا ته څلور لاري شته: دولت جوړونه، ملي پخلاینه، د نفوذ مخنیوی او دائمي آډې.

لومړی انتخاب، دولت جوړونه

مجله وایي، د طالبانو پر ضد د جګړې ګټلو لپاره یوه ستراتیژي د «دولت جوړونې» ده. که چیرې امریکا افغان حکومت قوي کړي، نو به پرهغه د ملت باور پیدا شي، د طالبانو پرضد به له حکومت سره ودریږي. د هغوی مقاومت ته به په ملت ځواب ورکړل شي. (مطلب دا چې افغان دولت تراوسه دولت نه ګڼل کیږي ځکه یې مجله ، له سره د دولت جوړوني وړاندیز کوي ، بل دا چې ګویا همدا دولت د افغان ملت نماینده نه دی ، هغوی ورباندې باور نلري ، ملت یې له حکومت سره نه دی ولاړ، بلکې د طالبانو ملاتړی دی.)

مجله پخپله پوښتنه کوي چې آیا دا ممکنه ده، چې له طالبانو پرته دې په افغانستان کې قوي حکومت موجود شي؟

ولې چې په دې کار کې به (چې افغان دولت قوي شي ؛) امریکا ځان نور هم دخیل کوي ، خپل پوځي او ملکي مشاورین به د افغان دولت سره په هره برخه کې ګماري ترڅو یې له نژدې څارنه وکړي.

خو دا کار به هرو مرو د امریکایی عسکرو د وژنې په قیمت تمامیږي، پریمانه پیسې به لګیږي چې اوس له ۲۵ نه تر ۵۰ میلیاردونو ډالرو کلنی لګښت دی؛ بیا به څو چنده زیاتیږي. ستراتیژیک تمرکز به غواړي، یعنی امریکا به په نړۍ کې له نورو مسایلو توجه اړوي او دلته به متوجه کیږي. وخت به یوه یا دوې لسیزې نیسي- ، او ښکاره خبره ده چې د امریکا خلک او آینده راتلونکې حکومتونه د دې ستراتیژي د پایلو، محصول او لګښت لپاره دومره زغم نشي- لرلای .

د مجلې په وینا بل تاوان یې دا دی چې که امریکا د دولت جوړونې ستراتیژي غوره کړي او په مقابل کې له افغان حکومت څخه کوم امتیاز ونه غواړي، دا به د امریکا لپاره هیڅ ګټور نه وي.

د کابل چارواکي اوس هم د خپلمنځي اختلافاتو او اداري فساد په اړه د پرېکنده انتخاب څخه ډډه کوي، په داسې حال کې چې د امنیتي ځواکونو لیکي یې د سیاسي توب، ضعف او کمزورۍ له ستر ګوانس سره مخ دي، خو دوی ځکه بې غمه دي چې پوهیږي امریکایان یې ساتنه کوي او همیشه به یې له خطر څخه په حفظ او امان کې ساتي. (مطلب دا چې که چیري امریکایان د دولت جوړوني په موخه نور هم له افغان حکومت سره ځانونه دخیل کاندي ، هغوی به لا بیغمه سي او چاري به یې ټولي د امریکایانو له غاړې وي دوی به یوازي د امریکایی مرستو په تمه شپې ورځې تیروي.)

مجله زیاتوي چې د دولت جوړوني دا ستراتیژي نور هم ډېر تاوانونه لرلای شي لکه په افغانستان کې د امریکا د اوږدې مودې ښکیلتیا سره د سیمیزو او ګاونډیو هیوادونو حساسیت او په پایله کې له هغوی سره د امریکا د جدي ټکر وېره. او داسی نور ...

لنډه دا چې د امریکا لپاره په افغانستان کې د دولت جوړوني یو آپشن سته چې هغه هم د پورته دلایلو په وجه ناکامه بریښي.

دویم انتخاب، ملي پخلاینه

د فارن افیرزمجله وړاندي لیکي د امریکا د نوي ولسمشر او د هغه د اداري لپاره بله لاره دا کیدای شي چې په افغانستان کې یوه ملي پخلاینه رامنځته کړي.

ملي پخلاینه په دوه ډوله کیدای شي ، یوه ژوره ملي پخلاینه ده چې په هغه کې ښایی ډېرو بنسټیزو تنازلاتو ته اړتیا وي لکه د طالبانو سره د ځواک شریکول، پر طبعي منابعو ریښتینی واک ورکول، د امریکایی ځواکونو د یو مخیز وتلو ژمنه کول ، او د استقلال داسی نوري غوښتنې منل. (چې دا کار د امریکا لپاره ډېر ګران دی).

بله هغه ملي پخلاینه ده چې د ملي امنیت د مشاور مک ماسټر په ګډون نور چارواکي یې په اړه فکر کوي او وایی چې یوه سطحي ملي

پخلاینه کیدای شي کافي وي، چې په هغه کې به طالبان په نظامي ډګر کې دومره وځپل شي چې بیا هر رنګه شرایطو منلو او تسلیمۍ ته چمتو شي، چې وروسته به دوی د افغانستان په سیاست کې ور ګډ کړل شي ، او حتی کیدای شي په امنیتي ځواکونو کې ځای پر ځای شي.

خو ځمکنیو حقایقو ته په کتو دا کار ناشونی او غیر معقول ښکاري. دغسي یو ماموریت کیدای شي په اسانۍ سره په یوه سخته، ستړې او اوږدې جګړې واوړي.

د دې ستراتیژۍ بل خنډ دا دی چې د افغانستان حکومت تر اوسه له طالبانو سره د مذاکراتو هیڅ انتخاب نه لري. داسي نه ښکاري چې د افغانستان حکومت له طالبانو سره مذاکراتو ته د کښېنستلو کوم پلان په نظر کې لري.

مجله وایی، بله آساسي خبره دا ده چې په ملي پخلاینه کې افغان حکومت پوره ځواک ته اړتیا لري چې بیا د خبرو پر میز له قوي موقف څخه مذاکرات وکړای شي. مګر داسي هیڅ توقع نه کیږي چې د یو څو زره نورو امریکایي ځواکونو په مټ به د افغانستان حکومت وکولای شي د طالبانو په وړاندي د قوي دریځ څخه برخمن شي.

طالبان حتی د حکومت تر امنیتي ځواکونو کوچنی خو پیاوړی ځواک لري، خو دوی اوس هم کولای شي چې په آسانۍ سره نوي سیمې تر خپل کنټرول لاندي راولي.

د دې ترڅنګ د طالبانو خپلمنځي هماهنګي، قوماندې او کنټرول، مقاومت، وسلو ته لاس رسی او د سیمه ایزه سیالانو ملاتړ؛ دا ټول هغه څه دي چې د طالبانو په وړاندي د قوي موقف څخه برخمن کېدل یې ناممکنه کړي دي.

لیکوال زیاتوي، بیا هم که پخلاینه کیږي نو سطحي پخلاینه ستونزه نشي. حل کولای او که ژوره ملي پخلاینه رامنځ ته کیږي نو دا به د امریکا د پنځلس کلونو لاس ته راوړني په اوبو لاهو کړي. (مطلب دا چې د واقعي ملي پخلاینې په صورت کې به د طالبانو حاکمیت یقیني کیږي ، د امریکا او د هغوی د ملګرو لاس به له افغانستانه لنډیږي ځکه چې اشغال به پای مومي. چې دا به امریکا ونشی زغملای ځکه چې له یرغل نه د امریکا لومړی هدف همدا و چې د طالبانو نظام له منځه یوسي. لکه څو ورځې وړاندي چې د امریکا د بانډنیو چارو پخوانۍ وزیري کونډولیزا رایس هم ښکاره اعتراف وکړ چې زمور هدف په افغانستان کې دیموکراسي نافذول نه ، بلکي د طالبانو نظام له منځه وړل و.

د فارن افیرز مجلې له دې اعتراف نه واضح ښکاري چې امریکا هیڅکله په افغانستان کې د سولې او آرامۍ اراده نلري. هغوی دلته فقط خپله بقا او حاکمیت غواړي ، که څه هم د افغانانو

ترمنځ د لسیزو لسیزو خونړیو جګړو او وینو تویولو په قیمت تمامیږي.)

درېیم انتخاب، په وچ زور د طالبانو د نفوذ مخنیوی

بله طرحه چې د فارن افیرز د مقالې لیکوال د امریکا د حکومت په وړاندې ایښې ؛ دا ده چې افغانستان ته دې اضافي عسکر د خلاص مټ صلاحیتونو سره ولیږل شي ترڅوهغوی د هرډول ځواک په کارولو سره ، په هر شکل چې وي، په لنډه موده کې طالبان له مهمو سیمو څخه پسې واخلي او په دې توګه د امریکا د عسکرو ایستلو ته سیاسي او تبلیغاتي پزه جوړه شي.

(مطلب دا چې د اضافي عسکرو لیږل یوازې په هغه صورت کې ګټه رسولای شي چې هغوی ته د خلاص مټ صلاحیتونه ورکول شي ، یعنې که هغوی هر ډول جنګي جنایت ترسره کوي باید پوښتنه یې ونشي- او د هرډول ممنوعه وسلې کارولو اجازه باید ولري. بل داچې لیکوال وایی په دې کار سره به امریکا ته دومره موقع مساعده شي چې خپل عسکر وباسي او په دې توګه ځان ته د اوړو پزه جوړه کړای شي. که څه هم په جنګ کې د بشري جنایت ارتکاب ته زړه ښه کوي او که څه هم طالبانو ته عارضي شکست ورکول کیږي. خو چې دوی خپل ځان خلاص کړي.)

مګر لیکوال د پورته نظر ورکولو سره سره بیا هم وایی چې دا کار هم ګټه او هم تاوان لري:

ګټه به یې دا وي چې پر امریکا به د مالي او ځاني تلفاتو بوج کم وي. او امریکا به نورو مهمو موضوعاتو ته ځان فارغ کړي وي.

بله ګټه یې دا ده چې د امریکایی عسکرو په داسې توګه ایستل به افغان حکومت راویښ کړي او د فساد مخنیوي او د نظامي ځواک لوړولو ته به یې مجبور کړي. د اوباما په وخت کې هیڅ افغان مشر دا ګومان نه کاوه چې امریکا به خپلې نظامي او مالي مرستې بندې کړي، ځکه خو یې په ځان کې د تغیر سوچ هم نه کاوه.

مګر تاوان یې بیا دا دی چې امریکا به د سیمې په ځینو هیوادونو خپل نفوذ له لاسه ورکړي. دا راز د افغانستان د حکومت په تشکیل کې به د امریکا رول کمرنګه شي، هغه فرصتونه او لاس ته راوړنې به ضایع شي چې امریکا او ناټو ۱۵ کاله د هغه لپاره خواري کړې.

څلورم آپشن، دائمي اډې

د دایمي اډو ستراتیژي دا ده چې امریکایي عسکر د نامعلوم وخت لپاره په افغانستان کې خپل نظامي حضور وساتي. په دې کې هم امریکا ښه ډېرو ځواکونو ته اړتیا لري چې خپل مراکز او بیسونه وروباندي وساتي.

حتی د امریکا یو شمېر ستراتیژي جوړوونکي لا له پخوا په دې فکر کې دي چې څرنګه په مرکزي آسیا کې یوه داسې دایمي اډه ولري، چې دمګړی د تروریزم سره د مبارزې په

نـوم خـو پـه آينـده کـې تـرې د چـين، ايـران او روسـيې لخـوا د هـر احـتمالي خطـر پـه وړانـديې مقاومـت او مخنيـوی وشي. (مطلـب دا چـې د امنيتـي تـړون سـند چـې لـه افغـان دولـت سره لاسليک شوی ؛ دا هسی يو دوکه ده چـې گويـا د افغانسـتان د امنيـت لپـاره دی ، د ليکـوال لـه دې خبري نه په ځرگنده ښکاري چې د امريکا اهداف ډېر خطرناک او د افغانستان په ښکاره ضرر دي. دائمي آډې هغوی د نورو مقاصدو لپـاره جـوړوي، نه د افغانستان د ثبات لپـاره لکـه څنگـه چـې يـې افغان چارواکي تبليغوي.)

ليکـــوال وايـــی چـــې د دائمـــي آډو د ستراتيژۍ منفي اړخ يو دا دی چې بهـرني اشـغال ته د افغان حکومت دايمي سرټيټی بـه پـه ولس کـې د دغـه حکومـت مشـروعيت نـور هـم ډيـر کمزوری کړي.

بل تاوان يې دا دی چې امريکا به هرومرو دا په ځـان منـي چـې د افغانسـتان حکومـت دې لـه اوږدمهـالې بـې ثبـاتۍ سره لاس او گريـوان وي، ځکـه چـې پـه افغانسـتان کـې د امريکـا دايمـي حضور به د سيمې هيوادونه سيالۍ ته وهڅـوي او پـه افغانسـتان کـې بـه د امريکـا مخـالفين تقويـه کيږي او حکومت به هميشه په لړزاند حالت کـې وي.

سخت او بې پايلې انتخاب

د فـارن افيـرز مجـلي د مقـالې د وروسـتي پيراگراف لنډيزاو مقصـد دا را وځـي چـې پـورتنۍ څلور واړه طرحې هره يوه پخپل ځـان کـې کـه لـه يوه اړخه څه ناڅه قابل عمل وي، خـو ناشـونتيا او منفي اړخونه يې تر مثبت هغه ډېر زيات دي لکـه پورته چې يې تفصيلات وويـل شـول. نـو پـه ټولـه کې ويل کيدای شي چې :

دولت جوړونه، ملي پخلاينه، دائمي اډې او د زور کارونه به امريکا يوې داسې لارې ته برابـره کړي چې په راتلونکي لسـيزه کـې بـه يـې نـور پـه سلگونو بليونه ډالره ضايع شي. خـو پايلـه بـه يـې صفر وي. دا ځکه چې ليکـوال د خـپلې مقـالې پـه لومړي پيراگراف کې دې ټکي تـه اشـاره کـړي وه چـې پـورتنۍ سـتراتيژۍ د مخکنيـو حکومتونـو (بوش+اوباما) په دور کې هم پـه مضـطرب شـکل څه ناڅه عملي شوي خو نتيجـه يـې هـيڅ راوتـلي ده. نو په آينده کې هم داسی ښکاري چې امريکا له دې څلـورو لارو پرتـه نـه بلـه لاره لـري او نـه د دې څلـورو د بريـاليتوب کـوم چـانس ترسـترگو کيږي.

ليکـوال پـه اخيـر کـې وايـی ، نـو کـه اوس حتی ټرمپ افغانستان ته د اضافي عسکرو د ليږلو موافقه وکړي، دا پوښتنه بيـا هـم حـل نـه ده چـې دغه عسکر به د کومې ستراتيژۍ د تطبيـق لپـاره استعماليږي.

پای ...!

امریکا خپلو لاسپوڅو ته په کوم نظر ګوري؟

حسن مومند

دا مورِ منو چې داسبابو پدې دنیا کې دمادي اسبابو او وسایلو پرته جنګونه مخ په وړاندې نه بوتلل کېږي دامورِ هم منو او زمورِ دښمن یې هم مني؛ مورِ دا هم منو چې ترټولو عالي اوتر ټولو پرمخ تللي وسایل ترلاسه کولو لپاره کوښښ کول او دخپل توان سره سم ددښمن په مقابل کې تیاری کول زمورِ د رب حکم دی .

خو مورِ دا نه منو چې ګیني پر دښمن غلبه او کامیابي یواځې داسبابو سره تړلې ده ؛ پردښمن غلبه او کامیابي دالله تعالی په قبضه او قدرت کې ده او چې راکوي یې نو دهغه جل جلاله فضل یې بولو.

هو!دې کې شک نشته چې څه معنوي داسې اسباب شته چې په شتون کې یې کامیابي او غلبه تقریباًیقیني وي چې پدې معنوي اسبابو کې دایمان او اخلاص نه پس په جنګ کې داورِدو قربانیو حوصله لرل یودِبر مهم معنوي سبب دی.

دازمورِ دګران ملت اوخصوصاً دمجاهدینو په اړه غلط فکر دی چې ګیني مورِ یواځې یوجنګ خوښی ولس یو؛جنګ مو شوق او په زړه پورې مشغله ده.

مورِ دجنګ په تاوانونو پوهېږو؛دامن قدر راته معلوم دی؛ دارام ، راحت اوسکون نه ډک ژوند دخدای نعمت ګڼواو دخپل ځان او ملت لپاره دهمداسې ژوند غوښتونکي یواو دبل چا دراحت او ارام ژوند هم بلاموجبه نه خرابوو او نه مو کله خراب کړی؛مورِ پر نورو جنګونه ندي مسلط کړي ؛ تل لویو زبرځواکونو پرمورِ دلویو غاصبو زبرځواکونو له لورې یرغلونه شویدي او پرمورِ جنګونه مسلط شویدي چې پرمورِ هر مسلط شوي هر جنګ کې الله مورِ ته فتح راکړي او هر ستر دښمن مو دسترې او شرمېدلې ماتې سره مخامخ شویدی.

چې داهر څه په جنګونو کې دقربانیو دلویې حوصلې لرلو په برکت شویدي؛ مورِ دا دالله تعالی

ډېر لـوی نعمـت ګڼـو چـې خوشـبختانه زمـوږ هـر دښمن ددې ستر نعمت نه محروم دی.

په ټولې سیمې کې دامریکا دشـومو پلانونـو تطبیق او دسیمې په سطحه دټولو مادي ګټو تحقق دافغانسـتان دقبضـې سره تړلـی دی نـو ځکـه ددې هېواد دقبضې ددوام لپاره امریکا ډېرې زیاتې هڅې کوي؛دلتـه سـتر مـالي او ځـاني تلفـات زغمـي او جنګ یې دامریکا دتـاریخ ترټولـو اوږد او تـاوانې جنګ ګرځي خـو چـې پـه ولـس کـې یـې داوږدې قربانۍ حوصله نشته نو نـه یـواځې پـه ولـس کـې بلکې په هغو اخبارونو او مجلو کې چـې دامریکـا ژبه او دتګلارې دتعین اصـل مراجـع ګڼـل کېـږي اوس پکـې ددې بـې ګټـې جنـګ پرضـد اوازونـه راپورته شویدي چې دواشـنګټن ټایمز خـبره پکـې دیادولو وړ ده.

څو ورځې وړاندې واشنګټن ټایمز لیکلي وو چې افغان جګړه هم دویتنام په څېر دبري چانس نـه لرې او ددې ۱۶ کلنې بـې ګټـې جګړې وروسـته لاهـم دسـمڅې په پای کـې رسـېدا نـه تـر سـترګو کېږي؛افغانسـتان دیـو عـادي امریکـایې سرتـیري دهـډوکو ارزښـت هـم نـه لـري او کـه کانګرس تر۳۰ ورځو پورې پـه افغانسـتان کـې دوسـله والـو پرضد جګړه اعلان نکړه نو ټرمپ دې دافغانستان نه خپـل تـول ځواکونـه راوباسي؛واشـنګټن ټـایمز امریکایې ورځپاڼه وړاندې وایې چې دامریکا نوی ولسمشر دیوې بې ګټې غیرقانوني جګړې مېراث خور دی؛دا جګړه هر کال ۱۲۸ ملیارده ډالر مصرف لري چې دورځـې پـه حسـاب ۳ سـوه ملیونـه ډالـر کېږي؛ ډونالډټرمپ قـانون تـه دمراجعـې لـه لارې دافغـان جګـړې نـه ځـان ژغـورلی شي؛دامریکـا داساسې قانون د۱۱ مې مادي پراساس دجګړې او متـارکې اعـلان دکـانګرس دغـړو مسـئولیت دی؛دافغانـانو وفـاداري محـدوده ده؛دوئ یـواځې دبهرني اشغال پرضد متحد دي.

ورځپاڼـه وایـې چـې دافغانسـتان څخـه دامریکایې عسکرو وتل امریکا تـه هـیڅ خطـر نـه پېښوي ؛مـوږ لـه ویتنـام څخـه ووتلـو خولـه هغـه وروسته له ویتنام څخه پرموږ بریـد ونـه شـو؛موږ

دپلپين دکلارک له هوايې بيس او دسوبيک له بحري بيس څخه خپلې قواوې وويستلې خوله هغه وروسته خطر راته ندی پيښ شوی .

دواشنګټن ټايمز دا خبره يواځې ديو ليکوال يا يوې اداري رايه ښکاره کول نه وي بلکه دې او دې ته ورته دوه دري دامريکا لويو امريکايې ورځپاڼو او جريدو کې چې څه خپرېږي دا دامريکايې ولس اواز وي .

دا سمه ده چې دامريکا ګڼ سياسي مشران ؛ دوسلو جوړولو شرکتونو مالکان او بدنامې خفيه اداري به په افغانستان کې دجنګ دوام غواړي ځکه چې په همدې دوام کې خپلې ګټې وينې خو دامريکاولس هماغه څه غواړي کوم چې واشنګټن ټايمز ليکلي دي؛امريکايان دماديا‌تو ډېر زيات حريصان او دخپل هدف دحصول په لار کې ډېر لوي ظالمان دي؛دجنګونو باب يې چې له بل هرچا طويل دی نو سخت بدنام هم دي؛په نړۍ کې يې چې دهرچا پرضد جنګ کړيدی يواځې د مادي ګټو لپاره يې کړيدی او هر مقابل هېواد يې تباه کړی او پکې يې په سونو زره يا مليونونو انسانان وژلي دي.

ددې ترڅنګ چې امريکايان سخت حريصان او ظالمان دي نو دمطلب يارۍ او بې وفايۍ کې هم خپل سيال نه لري؛په کوم ځای کې چې دخپلو اهدافو دحصول نه مکمل ناامېده شي نو بيا دهيڅ شي پرواه نه ساتي؛او بې له دې چې عواقبو ته نظر وکړي خپلې پښې سپکوي؛نه يې دلته لګول شوي په ملياردونو ډالر راستنولای شي او نه په زرونو وژل شوي فوځيان؛خپل ټول غلامان او لاسپوڅي داسې پرېږدي لکه چې يې بيخي نه پېژني او وايې چې تاسو ټول ديو امريکايې دهډوکو ارزښت نه لرئ.

دواشنګټن ټايمز همدا يو جمله چې ټول افغانستان ديوعادي امريکايې هډوکو ارزښت نه لري دامريکايانو دا اصليت ټولې نړۍ ته روښانه کوي چې امريکايان په هر ځای کې يواځې او يواځې خپلې ګټې لټوي او هر حرکت يې دخپلو اهدافو لپاره وي او چې ګټې او اهداف يې نه پوره کېږي نو دکوم هېواد يا ولس سره ملګرتيا ورته بې معنی او بې مفهومه ښکاري بلکې کوم مملکت چې په خپل زعم کې ورته امريکا دوسته ښکاري امريکا دغه مملکت او پدې مملکت کې خپل ټول غلامان او لاسپوڅي دخپل يوعادي عسکر سره نه برابروي.

پدې کې دټولو هغو هېوادونو لپاره دعبرت لوي درس دی کوم چې ځانونه دامريکا دوستان او امريکا خپله دوسته ګڼي خو کاش چې عبرت واخلي.

د کابل رژیم ولې د امریکا لپاره ملت په اور کې سوځوي...؟!

فرهاد

۳۷ کاله وړاندې چې د اوسنیو په څیر یوې ډلې پردیپاله په نوم افغانانو پوره ۱٤ کاله د افغانستان ولس د سره اور پر تبې کښیناوه ، بالاخره یې ماتې وخوړه او یو عالم غمونه یې افغان ولس ته پرینبودل ؛ دا دی اوس بیا د کابل نوي رژیم د امریکایي اشغالګرو په لارښوونه ۱۷کاله کیږي چې پر افغان مسلمان ولس یې د محشر ورځ راوستي ده ، او لاهم خپلې سرتېمبګۍ ته دوام ورکوي ، پرخپلو خلکو یې هیڅ ډول رحم نه راځي، اخیر ترڅو به دا ناعاقبت اندیشه چارواکي د امریکایانو لپاره خپل دا ستړی ملت ځوروي. او پخپله خوښه به یې د خپل سرنوشت له ټاکلو محروم ساتي او اجازه به نه ورکوي چې خپل مشروع حق (استقلال) ترلاسه کړي ..؟!

د روان کال له پیل څخه موږ او تاسو ټول د مجاهدینو د ډېرو سترو بریدونو او زیاتو پرمختګونو او ستراتیژیکو فتوحاتو شاهدان یو او د رژیم د عسکرو د ناوسۍ او بې کفایتۍ څخه هم په پوره توګه واقف یو چې د امریکا د الوتکو په مټ د ژوند تنفس اخلي ، د دوی پخپل اعتراف چې په یوه میاشت کې یې ٤٦۰ ځله بمبارونه کړي ترڅو طالبانو له منځه یوسي. خو بیا هم دوی پرخپل خره سپاره دي ، په دې یې زړه نه خوږیږي چې نور دا ملت پریږدي او د امریکایي یرغلګرو د اهدافو لپاره یې قرباني نه کړي.

د هیواد د ګڼ شمیر ولسوالیو له سقوط سره سره په پلازمینه کابل کې د پرلپسې سترو

بریدونو چې هم یې یرغلګر او هم یې د رژیم بې شمیره سرتیري د باروتو خوراک کړل ؛ او د ملت د ژوند ټولي چاري تقریباً په ټپه ورسره دریدلي او ولس له یو نامالوم برخلیک سره مخ دی ؛ د رژیم چارواکي یې په اړه هیڅ ډول اندیښنه نه ښیي ، فقط د امریکا د خوشحالولو او د خپلو خیټو د ډکولو او د یرغلګرو د ناروا اهدافو لپاره په مسلسل ډول د دې ولس بچیان د عسکر په نوم په مجاهدینو قتلوي او دوی خپله ځانونه په سیمټي دیوالونو کې محاصره کړي وي.

څه موده وړاندي چې د شاهین قول اردو پیښه رامنځ ته شوه او څه باندي ٤٠٠ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته ، دا راز د تېر کال په جریان کې چې په کابل کې د دفاع وزارت پر ودانۍ په بریدونو کې تر ۱۵۰ یونیم سل زیات سرتیري مړه او ژوبل شول ، او دغه رنګه د کابل لویدیځ کې د پولیسو پر کاروان په برید کې تر ۱۸۰ زیات وګړي قتل او ټپیان شول ، همدارنګه په دې وروستیو کې د زابل شاه جوی ، کندهار شاولیکوټ ، ارزګان چارچینو، هلمند ، کندوز ، فراه ، شمال جنوب ، ختیځ او لویدیځ کې په زرګونو عسکر هره میاشت وژل کیږي ؛ د رژیم چارواکي یې په اړه هیڅ ډول تصور هم نه کوي ، په داسې حال کې چې حکومتونه په نوره نړۍ کې د یوه عسکر مړینه هم خورا جدی خبره ګڼي . نو له دې نه صاف مالومیږي چې د کابل رژیم پردیپاله ګوډاګي چارواکي اصلاً د یرغلګرو لپاره دا ملت قرباني کوي او د کمونیستانو په ځیر یې د روسي بادارانو د اهدافو لپاره قتلوي ، له دوی سره هیڅکله د ملت او ولس فکر نشته او نه ځانونه د دې ملت خلک بولي ، متاسفانه هغه عسکر چې د چارواکو او د هغوی د بادارانو په پیسو ځانونه د ملت په مقابل کې وژني ؛ دوی ډېر خطا وتلي ؛ دوی باید ځانونه په سنجیده ډول وپوهوي او نور د ګوډاګیانو په امر د یرغلګرو لپاره له ملت سره ونه جنګیږي او دا ملت نور د اور پر تبۍ په بې رحمۍ سره ونه سوځوي ...!! اللهم اهدنا و اهدیهم الی صراطک المستقیم .

پای .....!

دیرغل په اړه د امریکا نویو اعترافونو

دکودا کیانو پرمخ څه پرېښودل؟

حسن زوی

دهرچا په علم کې ده چې اسلامي امارت دامریکا تر یرغل پورې په هېواد کې دننه دشمالي ټلوالی په نوم دیوې داسی ډلې سره په جنګ کې اخته پاتې شو چې دا ډله دجنګي وسایلوپه لحاظ ډېره ځواکمنه اودشمېر په لحاظ ډېره ستره نه وه ؛ داډله دهېواد د۱۰ سلنې نه هم په کمې ځانګړی سیمې کې راګېر وه ؛ په زیاتره وختونوکې به یې حالت دفاعي و او دهماغې ځانګړی سیمې پرته یې دهېواد په کومې بلی سیمې کې بوی هم نه محسوسېدلو دحملې کولو اوتاوان رسولو توان لرل خو ډېره لری خبره وه .

خوبیا هم اسلامي امارت ددې جنګ نه دځان خلاصولولپاره ډېرې زیاتې هڅې کولې ځکه چې جنګ که څه هم دکمزوري دښمن سره وي خوجنګ بیاهم جنګ وي ؛ پکې دډېرو ځوانانو سرونه خاورې کېږي؛ دډېرو انسانانو وینې پکې تویېږي ؛ ورانئ رامنځته کوي دهېواد دبودیجې لویه برخه ورته ځانګړی کېږي ؛ ددولت او ولس توجو ځان ته را اړوي اوپه نتیجه کې دپرمختګ ټول کارونه په ټپه ودرېږي.

دیوې نسبتاً کوچنۍ ډلې سره دجنګ روان ساتلو په نتیجه کې چې داتاوانونه داسلامي امارت مخې ته وو او ورسره مخامخ و نولکه دمخه موچې وویل اسلامي امارت دهغه مهال دروان جنګ نه دځان خلاصولو لپاره ربښتینې هڅې کولې او دبل کوم کمزوري ګاونډي یا دسیمې دکوم کمزوري هېوادسره یې په مشکل کې دځان اچولو نه ځان ساتلو نوځکه یې خپلې ټولې چارې په ډېر احتیاط مخ په وړاندې بوتللې .

اسلامي امارت چې دیوکمزوري ګاونډي هېوادسره ځان په جنګ کې اخته کول نه غوښتل اودایې دځان ، هېواد او ولس لپاره سراسر تاوان ګڼلو نوطبعي ده چې د امریکا په څېر دنړۍ دستر زبرځواک سره به یې هم جنګ کول نه غوښتل ؛ ځکه خواسلامي امارت د۱۱ستمبر دپېښې نه پس اوپر افغانستان دیرغل نه وړاندې امریکاته بیا بیا دمذاکراتودعوت ورکړ اود خبرو له لارې یې ورنه دستونزې دحل غوښتنه کوله خوامریکا داسلامي امارت یوې خبرې ته هم التفات نه کولو اوپر افغانستان دیرغل کولو او دلته داسلامي نظام دله

منځه وړلوپرته بل هیڅ شي ته نه تیاربدله . اسلامي امارت هغه مهال ویلي و چې د۱۱ستمبر پېښه هسې پلمه ده ؛ امریکا او نور لویدیځ ته چې دنړۍ په یو ګوډ کې هم اسلامي حاکمیت دزغم وړندی نو اصل هدف دلته دسوچه اسلامي حاکمیت له منځه وړل اودسیمې په سطحه دخپلو شومو اهدافو تطبیق دی .

خو دامریکا ګوډاګیانو به دافغانانو دغولولو هڅې کولې او ویل به یې چې امریکا دلته دیموکراسي ؛ دامن تأمین ، دبشر دحقوقوتحقق او د افغانستان بیا رغاونه غواړي اوله دې پرته دلته بل هیڅ هدف نه لري .

که څه هم داد یو عاقل لپاره هم دمنلو وړ نه وه چې امریکا دې دافغانستان په څېر په یوپردي هېواد کې ددیموکراسۍ اوبیا رغاونې لپاره خپل نازولي فوځیان دهلاکت دستر خطر سره مخامخ کړي اویادې دلته په ملیاردونو ډالر مصرف کړي خوپه افغانستان اونړۍ کې ګڼو هغو تنانو چې ځانونه یې مسلمانان هم ګڼل له دې یې انکار کاوه چې ګیني امریکا افغانستان اشغال کړیدی اوهدف یې دلته دسوچه اسلامي نظام له منځه وړل اوپه سیمې کې دخپلوشومو اهدافو دپلي کولولپاره دلته دائمي حضور دی ؛ دوئ به همدا خبره تکرارولې چې دامریکا هدف دلته دیموکراسي راوستل اوبیا رغاونه ده ؛ دوئ ددې اشغالګرو پر ضد دافغانانو دروانې سپېځلې او دمېرانې نه ډکې مبارزې نه هم انکار کاوه او سپین سترګي یې تردې حده رسېدله چې دبهرنو اشغال یې هم اشغال نه ګڼلو خو او س چې دامریکا دهغه مهال دتر ټولو لوړ پوړو چارواکو اعترافونه رامخې ته شول نو هرڅه دهمدې اشغالګرو په خوله روښانه شول چې ددوئ یرغل دڅه لپاره و.

د جارج ډبلیوبش په اداړ کې د بهرنیو چارو وزیرې افریقایي الاصله امریکایۍ کونډولیزارایس چې دجنګونوپه شهزادګۍ شهرت لري څو ورځې مخکې د لیکچر ورکولو پرمهال او بیا ورپسې په یوه تلویزوني مرکه کې وویل: پر موږ دې څوک دا اعتراض نه کوي چې امریکا ولې په افغانستان او عراق کې ډیموکراسي پلې نکړای شوه، ځکه چې زموږ د جګړې هدف دا نه و چې په افغانستان کې دې ډیموکراتیک نظام حاکم شي او نه مو په عراق کې دا هدف درلود، بلکې زموږ بریدونه یوازې د طالبانو او صدام حسین دله منځه وړلو او ددوئ درژیمونود ځپلو لپاره وو؛ زموږ د یرغل موخه دا وه چې هلته خپل هغه دښمنان له منځه یوسو، چا چې امریکا او سیمې ته احتمالي خطر پېښولای شوای . د دې په وینا چې هغه خطرات مو له منځه یووړل.

هغې زیاته کړه، دا چې د شته نظامونو تر ړنګولو وروسته هلته ډیموکراسي پلې نشوه؛ پر عدالت او انصاف ولاړ نظام رامنځته نشو، دا بېله مسئله ده؛ ځکه چې دا موضوع زموږ د یرغل په اجنډا کې شامله نه وه.

تاسي وګورئ ! دباندنيو چارو دوزيرې په سويه لوړ پوړی چارواکي په ځومره روښانو ټکودامريکايي يرغل اهداف بيانوي ؟!

رښتيا ده چې هغې د صليبي جګړې ماهيت هغسی واضح کړ، لکه څنګه چې اصل واقعيت و ، اولکه څنګه به چې مجاهدينو به هميشه ويل چې د صليبي يرغل اهداف دا نه دی، چې د هغوی غوليدلي ګوډاګيان يې بيانوي بلکې اهداف يې دلته دسوچه اسلامي نظام له منځه وړل ؛ داسلام اوسوچه مسلمانانو ځپل اودسيمې په سطحه دخطرناکومو خود حصول په موخه دلته دائمي حضوردی .

کونډوليزارايس چې دصليبي يرغل موخې واضحه کړې نوترڅنګ يې نړی ته دامريکا څېره هم روښانه کړه چې آبادي اوجوړول دامريکا په کتاب کې نشته ؛ بس دامريکا کار ورانول اوړنګول دي ؛ هغه ښه په سپين سترګی وايې : دا چې د شته نظامونو تر ړنګولو وروسته هلته ډيموکراسي پلې نشوه، پر عدالت او انصاف ولاړ نظام رامنځته نشو، دا بېله مسئله ده؛ ځکه چې دا موضوع زمور د يرغل په اجنډا کې شامله نه وه.

وګورئ ! په ځومره بربنډو ټکو هغه اعتراف کوي چې اجنډا يې ورانول و اوبيا جوړول يې بيخي داجنډا برخه نه وه .

اوس داسې هيڅوک نشته چې دامريکا نه دا وپوښتي چې آيا ستاسو مادي طاقت ددې لپاره دی چې نظامونه پرې ړنګ اونړی پرې ورانه کړئ ؟ تاسې نړی ته ولې سپين دروغ وايئ ؟ ستاسو دبشر دوستی ؛ دانساني همدردی ؛ په نړی کې په عدل او انصاف ولاړو ديموکراتيکو نظامونو دراوستلو لپاره دژمنتيا او په هر هېواد کې خلکو دخپلې خوښې سره سم درژيمونو جوړولو حق ورکولو دعوې موخه شوې؟

اوتر ټولومهمه دا چې پرافغانستان اوعراق ديرغل هدف د طالبانو اوصدام حسين له منځه وړل اودغلته دشتو نظامونو ړنګول وو او ستاسوپه خپلې وينا مو دا اهداف ترلاسه کړيدي نوديرغل داهدافو دحصول نه پس موولې ددې دواړو هېوادونو اشغال ته دوام ورکړيدی ؟

بس خبره ښه روښانه ده ؛ ډېرو فلسفي بحثونو ته اړتيا نشته دامريکا په مشرۍ کې دلويديځ له لورې داسلام اومسلمانانوپر ضد صليبي جنګ اعلان شويدی ؛ دښمن ته ښه زيات تاوان رسول هم دجنګ يوه لويه کاميابي ګڼل کېږي ؛ نوداسلامي نړۍ روغ نظامونه ړنګول ؛ دآبادو ښارونو ورانول ؛ ودان کلي يې په کنډوالو بدلول ؛ اوسېدونکي يې دخپلو کورونو پرېښودلو او هجرتونو ته د اړ ايستلو نه پس دنړۍ په مختلفو برخوکې په ډول ډول پلمو د ذلت نه ډک ژوند سره مخامخ کول دصليبي اتحاد داعلان شوي جنګ ستر هدف دی اودا اتحاد په خپل دې هدف کې کامياب دی .

مسلمانان دې پدې ښه پوه شي چې امریکا او نور لویدیځ داسلامي نړۍ په یوهبواد کې هم هغه دیموکراسي نه غواړي کومه چې په لویدیځ کې رائجه ده ؛ دوئ پر اسلامي هېوادونو هغه دیکتاتوران اوشاهان مسلطوي چې خپل ولسونه یې دښه زیاتوظلمونوښکاروي ؛ اسلامپالي پکې سر پورته کولوته نه پرېږدي اودهرچا مشروع آزادي یې سلب کړی وي اودامریکا اونور لویدیځ هرحکم ته دحلقه بگوش غلامانو په څېر لبیک وایې .

که په کوم اسلامي هېواد کې داشغال نه پس دیموکراتیک نظام اعلان هم کړي نو هغه تش په نامه دیموکراتیک وي چې پکې لاسپوڅي ، لوټماران ، اختطاف گر، قاچاقبران ، زور واکان واکمن وي ؛ په همدې مسلط شوي انارشیزم کې د هغه هېوادکلتوري ارزښتونه دتباهۍ سره مخ وي اوددیني لارښوونو فضا خړه پړه وي.

او دداسې دیموکراتیک دولت حقیقت او ماهیت هغه وي کوم چې په افغانستان اوعراق کې دی.

د اشغالگرو لاسپوڅو مدافعینوبه چې ویل چې گویا بهرنیان دلته د دې لپاره راغلي چې مورِ ته د یموکرات نظام جوړ کړي، عدالت او انصاف پلي کړي، بیا رغاونه راته وکړي، تعلیمي او روغتیایي اسانتیاوې راته برابرې کړي، امن، سوله او پرمختگ راته راولي د صلیبي اشغالگرو د دغسې اعترافونو او عزایمو ښکاره کېدلو چې د کنډولیزارایس له خبرو څرگندیږي، د گوډاگیانو پر ټندو ډېر لوی تور داغ دی او د دوئ د دې غولونکو ادعاوو دروغجنتوب دلر په څېر روښانه کوي.

گوډاگیانو او دگوډاگیانو په مرسته چې اشغالگرو په سلگونو زره بې گناه انسانان په شهادت ورسول؛ په تېرو کابو ١٦ کلونوکې یې په سونو زره بې گناه افغانان دزمانې بدنامو زندانونوته یوړل ؛ دمظلومو افغانانوپر کورونو یرغلگر کفار وروختل، غریبو افغانانو ته یې بې عزتۍ وروړولې، اوس ددې وخت راغلی دی چې د کابل دادارې گوډاگیان نور د خپلو ناوړه کړنو او د خپلو بادارانو د دې ډول څرگندونو په اړه د شرم او ندامت احساس وکړي ؛ له منځه ووځي او افغانان پرېږدي چې داشغالگرو ویستلو ته متحد شي او خپل سرنوشت پخپله وټاکي . خو دمادیاتو ددې لېونو عقلونه چې مسخه شویدي د داسې اخلاقي جرأت تمه تړې نه شي کېدای .

هو ! دخپل غیرتي ولس نه مو داتمه او هیله ده چې نور به پکې ټول توپیرونه له منځه ولاړ شي ؛ ټول به دیرغلگرو او د دوئ دلاسپوڅو پر ضد راپورته شي او د دوئ د ناپاکه وجود نه به هېواد پاک او دابدي بد بختیو نه به ورته نجات ورکړي .

ان شاءالله تعالی

د اسلام غزوات او سرايا

ابوظهير

ذی القصه ته دمحمد بن مسلمة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سريه

زرقاني وايي ذی القصه ديوځای نوم دی چې دمدينې منورې نه په شل ميله مسافت کې راځي ، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهجرت په ٦ کال په ربيع الاول مياشت کې محمدبن مسلمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دلس ملګرو سره يوځای ذی القصه ته دښی ثعلبه اوبنې اعوال مقابلې لپاره ور واستاوه، محمد بن مسلمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اوملګري يې دشپې ذی القصه ته درسيدو له امله ويده شول اود دښمن خلک له وړاندې په غره کې پټ ول، کله چې هغوی ويده وليدل نو سل کسان راغلل ټول يې په خوب ويده شهيدان کړل محمد بن مسلمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ټپي شو خو دښمن فکر وکړچې مړ دی تري لاړل ، په لاره يو مسلمان تيريده هغه محمد بن مسلمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ پورته کړ اوځان سره يې مدينې منورې ته بوته.

ذی القصه ته دابوعبيدة بن الجراح رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سريه

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه له هغوی نه دغچ اخستو لپاره ابوعبيدة بن الجراح رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته ځلويښت کسان ورکړل او هغه يې ذی القصهته واستاوه ، درسيدو سره يې په دښمن حمله وکړه ،خلک اوډار شول او په تښته اووتل ابوعبيدة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يې څاروي ونيول له ځان سره يې مدينې منورې راوستل ديته دذی القصه دوهمه سريه ويل کيږي...

د جَمُوم سريه

دهجرت په ٦ کال اوپه ربيع الاخر کې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زيد بن حارثه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دجموم ته دبني سليم مقابلې ته واستاوه، کوم چې دمدينې منورې څخه څلور ميله په اندازه لرې دی، زيد بن حارثه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اوملګري چې کله جموم ته ورسيدل هلته يې يوه ميرمن اومندله، هغې ورته ددښمن خلک ور اوښودل، صحابه وو تري څه کسان اونيول او هم يې څه اوښان او څو اوزې ځان سره د دوه ورځو سفر وروسته مدينې ته ورسولې.

(طبقات ابن سعد ٢ټوک ٦٢-٦٣، زرقاني ١٥٥مخ)

دعِيص سريه

دهجرت په ٦کال جمادی الاولی مياشت کې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته اطلاع وشوه چې دقريشو دسوداګری يوه قافله له شام نه بيرته

ستنېږي، زيد بن حارثه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يې ديوسل اويا سپرو سره يوځای دعِيص په نوم سيمې ته واستاوه، یاده سيمه دمدينې منورې څخه دڅلورو ورځو په مسافت ساحل ته څېرمه پرته ده له همدې سيمې دقريشو قافله تېرېده، مسلمانان هغه ځای ته ورسيدل دقافلې ټول کسان يې ونيول او هم يې ټول تجارتي توکي او اسباب ترلاسه کړل او ځان سره يې مدينې منورې ته راوړل، په بندیانو کې درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زوم ابوالعاص بن ربيع هم و، درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لور حضرت زينب رض هغه ته پناه ورکړه په دې سره رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم هغه ته پناه ورکړه ، دهغه ته يې ټول سامان او توکي بيرته ورکړل (طبقات ابن سعد۲ټوک ٦٢- ٦٣مخ)

دحضرت ابو العاص بيرته ستنيدو او بيا داسلام راوړو مفصله قيصه په غزوه بدرکې تېره شوې

دطَرِف سريه

طَرِف ديوې چينې نوم دی ، دمدينې منورې نه د ٣٦ ميلو په فاصله ده، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهجرت په ٦کال جمادی الاخری کې زيد بن حارثه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته پنځلس کسان په لاس ورکړل دبني ثعلبه دسرکوبۍ لپاره يې يادې چينې ته واستول بني ثعلبه دمسلمانانو په ورتلو وتښتيدل او زيدبن حارثه يوشمير اوښان او وزې ونيولې هغه يې ځان سره مدينې منورې راوستې (طبقات ابن سعد ۲ټوک ٦٢- ٦٣مخ).

د حسمی سريه

حسمی وادی القری ته څېرمه يو ځای دی، چيرته چې جذام په نوم قبله ميشت وه، ابن سعد او ابن سيدالناس دواړه وايي: چې دا سريه دهجرت په ٦کال په جمادی الاخرا مياشت کې ليږل شوې او حافظ ابن قيم وايي: چې دا واقعه دحديبه صلحې وروسته شوې، ځکه دحديبې وروسته دحيه کلبي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دروم پاچاته درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليک مبارک ويوړ (زرقاني ۲ټوک ۱۵۸مخ)

دهجرت په ٦کال په جمادی الثاني کې دحيه کلبي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليک مبارک واخيست او دروم پاچا قيصرته ورغی، هغه ځای نه بيرته راته ،دقيصر له لوري تحفې او هديې هم ورسره وې ، کله چې حسمی ته نيږدې شو د هيند جذامي په نوم يوتن او دجذام قبيلې څوتنو ورباندې حمله وکړه او ټولې تحفې او هديې تري غلا کړې، يواځي يو زوړ څادر يې ورسره پرېښود، رفاعة بن زيد جذامي (چې په اسلام مشر ف شوی و) هغه خبر شو ،دڅو نورو مسلمانانو سره يوځای ورغی دهيند جذامي نه يې ټول سامان اوڅېزونه واخيستل او حضرت دحيه کلبي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته يې وسپارل ، حضرت دحيه کلبي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې مدينې منورې ته ورسيد رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يې دا ټوله واقعه تېره کړه، رسو ل الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دحضرت زيد بن حارثه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په مشرۍ پنځه سوه صحابه دحسمی په لور واستول، هغوی دشپې تلل او د ورځې به پټيدل، يوسهار و چې مسلمانان هلته ورسيدل او په هيند يې حمله وکړه هغه او دهغه ځوی يې قتل

کړل سل میرمنې او ماشومان یې ژوندي ونیول زراوښان اوپنځه زره وزې په لاس ورغلې، داچې دهغه سره یوځای درفاعه بن زید کسان هم اوسیدل ځوک چې مسلمانان وو په تیروتنه سره دهغوی ماشومان او میرمنې هم دمسلمانانو لخوا نیول شوي وو ، رفاعة بن زید رسول الله ﷺ ته راغی ، رسول الله ﷺ دهغه سره حضرت علي رضي الله عنه واستاوه، ځو هغه زید ته حکم ورسوي چې ټول بندیان خوشي کړي او هم ټول مالونه ورته بیرته وسپاري په دې توګه هغوی ته ټول مالونه او ځاروې بیرته ورکړل شول. (ابن سعد۲ټوک ٦٣مخ، زرقاني ۲ټوک ۱۵۸مخ)

د وادی القری سریه

وادی القری دیوځای نوم دی چې مدینې منورې ته څېرمه دشام په لارپروت دی، دهجرت په ٦کال په رجب په میاشت کې رسول الله ﷺ زیدبن حارثه رضي الله عنه دښي فزاره دسرکوبۍ لپاره وادی ا لقری ته واستاوه په دې سریه کې څوتنه مسلمانان شهیدان شول او خپله حضرت زیدبن حارثه رضي الله عنه ټپي شو.

د دومة الجَندَل سریه

عبد الله بن عمر رضي الله عنه روایت کوي رسول الله ﷺ په مسجد کې و، ابوبکر، عمر، عثمان، علي ، عبد الرحمان بن عوف، عبد الله بن مسعود، معاذبن جبل، حذیفة بن الیمان او ابوسعید خدري رضي الله عنهم اونور ډېر رسول الله ﷺ سره ناست وو، یو انصاري ځوان راغی سلام یې واچوه ،کیناست او بیا یې عرض یې وکړ:

یا رسول الله ! ایُّ المؤمنین افضل

ژ: دالله رسوله (ﷺ) ترټولو غوره مسلمان څوک دی؟

رسول الله ﷺ وفرمایل: احسَنُهُم اخلاقا

ژ: دچا چې اخلاق ترنورو غوره وي

بیا یې داپوښتنه وکړه: فایُّ المُؤمنین اَکیَس

ژ: کوم مسلمان ترټولو زیات هوښیاردی

رسول الله ﷺ وفرمایل:

اَکثَرُهُم لِلمَوتِ ذِکراً وَاَکثَرُهم اِستِعداداً اله قبل اَن یَّنزلَ به اُلئِک الاَ کیَاس

ژ: څوک چې مرګ زیات یادوې او دمرګ راتلو څخه وړاندې زیات تیاری کونکی وي همدا خلک هوښیار او پوهیدونکي دي

انصاري ځوان چوپ شو او رسول الله ﷺ مجلس ته متوجه شو وې فرمایل:

پنځه خصلتونه زیات خطرناک دي الله تعالی دي تاسو ته دهغو نه پناه درکړي او دهغو له لیدلو مو وساته

۱ـ کله چې په قوم کې بې حیایې په ښکاره پراخه شې ، په هغه قوم کې به دطاعون داسې ناروغې خوره شې چې وړاندې به نه وې ښکاره شوې

۲ـ کوم قوم چې په تله او ګز کې کمی کوي هغه به په قحط او مشقتونو کې مبتلی شي او وربانديې ظالم پاچا به مسلط شي .

۳ـ کوم قوم چې دخپلو مالونوڅخه زکات نه ورکوي په هغوی به د باران وریدل ودریږي که څاروي نه وي یومخ به دباران څخه به محروم کړای شي.

۴ـــ کوم قوم چې دالله جَلَّ جَلَالُهُ او دهغه درسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عهد ماتوي نو الله تعالی ور باندې اجنبي دښمنان مسلط ګرځوي او په هغوی به دنورو قومونو واک (حکومت)راشي دهغوی له لاسه چې هر څه کېږي هغه به پري کوي.

۵ـــ کله چې واکمن او مشران دالله تعالی دکتاب خلاف فیصلې کول پیل کړي او متکبر او سرغړونکي شي نو الله تعالی به یې په منځ کې درز واچوي.

ددې وروسته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عبد الرحمان عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته حکم وکړ:

زه نن یا سبا تا په یوپلان باندې لیږم ځان تیار کړه

په سبا ورځ چې کله دلمانځه نه فارغ شو ، عبد الرحمان بن عوف یې ور وغوښته ، په مخکې یې کیناوه او په مبارکو لاسو یې ورته توره پګړۍ وترله ، څلور خورې ګوتې یې ورته شاته شمله پریښوده وې فرمایل:

ابن عوفه ! داسې پکړۍ ترې په دې سره به غټ ښکاري.

بیا یې حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته حکم وکړ چې یوبیرغ راوړه او عبد الرحمان ته یې ورکړه ، ددې وروسته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دالله دحمد ثنا وویله او په ځان یې درود ووایه عبد الرحمان بن عوف ته یې وویل:

دا بیرغ واخله او دالله په لاره کې جهادته روان شه کومو خلکو چې په الله جَلَّ جَلَالُهُ کفر کړی هغوی سره قتال وکړه خیانت او غدر مه کوه دهیچا نه پوزه، غوږ مه پریکوه ماشومان مه وژنه، دا دالله تعالی عهد او دهغه دپیغمبر سنت دی.

بیا یې ورته داووسوه کسانو سره د دومة الجندل په لور دتلو حکم وکړ ورته وې فرمایل:

که هغه ستاسو دعوت قبول کړ او اسلام راوړي دهغه ځای درئس دلور سره په نکاح کولو کې تأمل مه کوه

عبد الرحمان بن عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روان شو او هلته ورسید خلکوته یې داسلام دعوت ورکړ ، تر دریو ورځو پورې دعوت ورکولو ته دوام ورکړ، په دریمه ورځ د دومة الجندل رئس اصبغ بن عمر اسلام قبول کړځوک چې په عیسوي دین و، او دهغه سره نورو دېرو خلکو هم اسلام قبول کړ او درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوړاندوینې سره سم درئس اصبغ دلور تماضر عبدالرحمان بن عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نکاح وکړه او هغه یې ځان سره مدینې منورې ته راوسته ابوسلمة بن عبد الرحمان څوک چې په کبارو تابعینو او جلیل القدر حفاظو کې دی دهغې دخیټې نه پیدا شوی (زرقاني ۲ټوک ۶۳مخ، طبقات ابن سعد۲ټوک ۱۵مخ)

نوربیا ...

۲۰۱۷ زکال

د مـــئ میاشتې جهادي خبرونه

د مورچل وږمې

نعت

مسلم یار

چې کله یې اواز د نبوت ولګیده
پر قصر د کسری باندي ذلت ولګیده

تر تور جهانه راغلي د سپین لمر زریني وړانګي
اورونه پر انګړ د جهالت ولګیده

ناحقه دښمنیو کیږدۍ ټولي کړي له زمکي
شکست یې د احبارو پر شوکت ولګیده

ژوند وساتل سو مرګ د ژوندي ښخو ژوندی شخ شو
داغونه پر سینه د عداوت ولګیده

یاران سول رحمتونه د یاغي کري په زړه کې
مرهم پر پرهرو د بشریت ولګیده

را وټوکید ارمان هیلي ژوندۍ امید زرغون شو
پر تور خزان طوفان د هلاکت ولګیده

شو شکل خوږ اذان د ستر بلال په خواږه غږکې
پر هر بزم یې زیری د وحدت ولګیده

سرور د کائناتو د رڼو سترو په خوا کې
چې وځلید پر لمر هم خجالت ولګیده

نفرت له زړونو والوت د ایمان مینه شوه وېښه
وروري شوه مسلمیاره محبت ولګیده

جانان خدرخیل

دار ته غاړه وړمه

د دار تر توره پړي به مې سپینه غاړه وړمه
انجام د پاکې مینې ته په مینه غاړه وړمه

په هسکه غاړه ځمه سبا خپلې قتل ګاه ته
نور بس د آرام غېږې ته شیرینه غاړه وړمه

آمېل د پر هرونو او په وینو سره مرۍ مې
حضور ته د جانان به مې رنګینه غاړه وړمه

ورځم دوفا نښه سر په لاسو کې ور وړمه
د یار وه درته دا رنګه حسینه غاړه وړمه

هر څاڅکی د هغه د محبت سندرې وایي
نو ځکه خو همدا سې رنګ په وینه غاړه وړمه

ټټر باندې مې مه اېږدئ ګلونه کلیوالو
دا نه ګورئ چې ټپ ټپ ګلورینه غاړه وړمه

پېغوردې د سپېڅلې مینې راکړي خدرخېله
پروا نشته تر ټولو به زرینه غاړه وړمه

غزل

دسپرلي ورا

عرفان الله عرفاني

ورا د سپرلي د غره په څنډه وينم
خزان له سيمې نه په منډه وينم

لور په لور وړم د سنځلو خپور دی
سپين شبنم پروت د ګل په ټنډه وينم

لکه غاټول ښکاري کېږدی پر دښتو
هر ځای رمه د شپونکي پنډه وينم

زېری راوړی د سهار نسيم دی
بوړبوکی بوره، سيلی کونډه وينم

ګلبڼ ته بيا بلبلان کډې راوړي
د بوراګانو لويه غونډه وينم

(عرفاني) ځمه د جانان کلي ته
نن يې نزدې سم بې له خنډه وينم

سید الهام

شکر نه پر شوو نه بدل شوو او نه هم بې ایمان خیر که کلی مو بمبار دی لوی او کم شهیدان

هرڅومره نور هم کړاوونه زغمو باک پرې نکړو
چې پاک الله رانه راضي وي او راضي وي جانان

د شهیدانو مزارونه پر دې خره ځمکه
لکه په ستورو چې ښه ایسي تورشپه کې آسمان

په و دانیو وطن کله ودان شوی چیري
چې ټول وګړي یې یو ځان وي ها وطن دی ودان

ډیري پیړۍ به مو دا ویاړ و ي و بچو ته پاتې
دا چې غلیم وکړ په ماته خوله د ماتې اعلان

د حقي لارې قربانیان دي تل ژوندي الهامه!
د هر شهید په ژوند ګواه دی پاک سپېڅلی قرآن

د غربي اشغالګرو وحشتونه

Islamic, Jihady, Educational and Cultural Monthly Journal

Morchal

د نظامي کميسيون د لايحي ۸- ۹او ۱۰مه ماده:

۸- ماده: دنظامي کميسيون حلقي، ولايتونه اوولايتي کميسيونونه به خپلې مهمې پربکړې په تحريري بڼه له اداري (مديريت)سره ساتي ترڅود اړتيا په وخت د سند يه ډول کار تړې واخيستل شي او د غوښتلو په وخت به يې د نظامي کميسيون عمومي منشي ته سپاري.

۹- ماده: نظامي کميسيون به د اړتيا په وخت د اسلامي امارت له نورو کميسيونونو او اداراتو سره لازمه مرسته او همکاري کوي او خپلو مجاهدينو ته به داسې روحيه ورکوي چې د اسلامي امارت اړوند هر پوځي او يا ملکي خدمت ته د مقدسې جهادې وظيفې په نظر وګوري او هر خدمت په پوره اخلاص ترسره کړي.

۱۰- ماده: نظامي کميسيون د جهادي عملياتو په طراحي، اجراء او د مجاهدينو په اکمال او تجهيز سربېره د مسلح جهاد د ټولو اړوندو چارو د څار مسؤليت هم لري، لکه د غنائمو ساتل او په شرعي طريقه تقسيم، د بنديانو ساتل او د محابسو سرپرستي، په مفتوحه او تر واک لاندې سيمو کې د امنيت تأمينول او د نظم ساتلو لپاره د ترتيب او تشکيلاتو جوړول، د وسلو، مهماتو، انفجاري موادو او ټولو جهادي وسائلو او امکاناتو حفظ او مراقبت، له بې اطاعتي او نامشروع کړنو څخه د مجاهدينو راګرځول، له بدکاره افرادو څخه د صفوفو تصفيه داتفاق اواتحاد اويوله بل سره دبرداشت روحيه پيداکول.